# بې واکه زړه

## (د شعرونو ټولګه)

پوهندوی دوکتور سید حسام «مل»

دیجیټال جوړښت: محمدقاسم آسمایی

دیجیټال نشر: د راه پرچم انتشارات

**د کتاب پېژندنه:**

عنوان: **بېواکه زړه (د شعرونو ټولګه)**

شاعر: **پوهندوی دوکتور سید حسام «مل»**

دیجیټال جوړښت: **محمدقاسم آسمايي**

دیجیټال نشر: **د راه پرچم انتشارات سپتمبر ۲۰۲۶**

راه پرچم ناشر اندیشه‌های دموکراتیک

www.rahparcham1.org

# نیولیک


دربارۀ نشر دیجیتال این اثر ....................................أ

د شاعر لنډه پېژندنه........................................... ب

اوښکې ........................................................ ۱

د مین ژړا ....................................................... ۱

راوریـږي....................................................... ۲

مین یم ......................................................... ۳

د جفا نښې...................................................... ٤

دلګرمي ........................................................ ٤

د مینې رنګ .................................................... ٥

نه ځاېږي....................................................... ٥

د مینې غم ...................................................... ٦

غم غلطوم ..................................................... ۷

د مینی پارېدل.................................................. ۸

ستا صفتونه ..................................................... ۸

د زلفو وږمې.................................................... ۹

ستا یاد ........................................................ ۱۰

راسره يې...................................................... ۱۱

غزل لیکم..................................................... ۱۲

نه ومه شاعر .................................................. ۱۲

بېلتون..................................................................... ۱۳
آب بقا ................................................................... ۱٤
تا پسې ژړا .............................................................. ۱٤
نشم کولای .............................................................. ۱۵
سزاوار د سزا ............................................................ ۱۵
کرشمې .................................................................. ۱٦
ستا سترګې.............................................................. ۱٦
تا سره مرکه ............................................................ ۱۷
زړه زما وه.............................................................. ۱۸
رواني اوښکې........................................................... ۱۹
مروره.................................................................... ۱۹
پټ کتل.................................................................. ۲۰
پوه نه شوې ............................................................ ۲۰
د یار څورېدنه ......................................................... ۲۱
پسرلی راځي ........................................................... ۲۲
د بنګړو شرنګ ........................................................ ۲۳
ګل بدنه................................................................. ۲۳
رقیب..................................................................... ۲٤
مینتوب.................................................................. ۲٤
د صیاد ښکار .......................................................... ۲۵
څومره خوښېږي....................................................... ۲۵

د مينې لمبه ........................................................ ٢٦
چې نګار نه وي.................................................... ٢٧
ډار ................................................................. ٢٨
د اوښکو باران ..................................................... ٢٩
غلچکي نظر ........................................................ ٣٠
اباسين کې ... ........................................................ ٣١
د مينې وړانګې ..................................................... ٣٢
د آشنا سترګې ...................................................... ٣٣
د در ملنګ .......................................................... ٣٤
ناز او ادا............................................................. ٣٥
څو ښځينه سندرې................................................... ٣٦
ليونۍ به شم ........................................................ ٣٧
څپېړې................................................................ ٣٨
لوبه.................................................................... ٣٩
د مينې موج.......................................................... ٤٠
مينه مې بايللې ...................................................... ٤١
د زړه دوا ........................................................... ٤٢
انتظار ................................................................ ٤٣
مين کيږې ........................................................... ٤٤
چيغه.................................................................. ٤٤
عشرت ................................................................ ٤٥

**تسلي شي** ........................................................................................ ٤٥
نرۍ خولۍ........................................................................................... ٤٦
**یاده وه** ........................................................................................ ٤٦
**د عشق اور** ........................................................................................ ٤٧
**نوبهار**........................................................................................... ٤٨
**آشنا بېګانه شو**........................................................................................... ٤٩
**قساوت** ........................................................................................ ٤٩
**ګل شرمېږي**........................................................................................... ٥٠
**تغافل**........................................................................................... ٥١
**د بنګو پياله** ........................................................................................ ٥٢
**ګل خانګه** ........................................................................................ ٥٣
**د مينې راز** ........................................................................................ ٥٤
**خدای ناترسه**........................................................................................... ٥٤
**په نخرو راځي**........................................................................................... ٥٥
**د سنځلو عطر** ........................................................................................ ٥٦
**سالګره**........................................................................................... ٥٧
**کجل** ........................................................................................ ٥٨
**د مينې جذبه**........................................................................................... ٥٩
**لوڅې نخرې**........................................................................................... ٦٠
**د زړه بڼ** ........................................................................................ ٦٠
**پېزوان** ........................................................................................ ٦١

ښکلې هوسۍ........................................ ٦٢
د ګلو ګېډۍ ........................................ ٦٣
د باڼو غېښې ........................................ ٦٤
هیلۍ........................................ ٦٤
مروره........................................ ٦٥
عبهر ........................................ ٦٦
سپېلنۍ........................................ ٦٧
ګدر........................................ ٦٨
د مینې توپان ........................................ ٦٩
د بنګړو شرنګ ........................................ ٧٠
کلیواله نجلۍ........................................ ٧١
خوب........................................ ٧٢
مست ........................................ ٧٣
تنده ........................................ ٧٤
فیصله ........................................ ٧٥
دیدار ........................................ ٧٦
ساقي........................................ ٧٧
ناکامه مینه........................................ ٧٨
د کلونو مروره........................................ ٧٩
زغم........................................ ٨٠
خوبونه ........................................ ٨١

مینه ........................................................ ۸۲
د زلفو جال ........................................................ ۸۳
کوچۍ پېغله ........................................................ ۸۴
زلمی وم ........................................................ ۸۵
د خیال ټال ........................................................ ۸۶
اقرار ........................................................ ۸۷
د اور مجمر ........................................................ ۸۸
د توبو توبو سره ........................................................ ۸۹
پایزېبونه ........................................................ ۹۰
د جنت حورې ........................................................ ۹۱
شینکي خالونه ........................................................ ۹۲
خلوتګاه ........................................................ ۹۳
لوڅې نخرې ........................................................ ۹۴
نه کوم یاری ........................................................ ۹۵
زړه نازړه ........................................................ ۹۶
کابلۍ پېغله ........................................................ ۹۷
نه ښکاري ........................................................ ۹۸
نیامه ........................................................ ۹۹
مهجور یم ........................................................ ۱۰۰
د مینې جذبه ........................................................ ۱۰۱
تور لېمو ........................................................ ۱۰۱

په حال د خپل ............................................................. ۱۰۲
ځنځېري لېونی ............................................................. ۱۰۲
ارمان ............................................................. ۱۰۳
شفا شي............................................................. ۱۰٤
حذر که ............................................................. ۱۰٤
زغم غواړي............................................................. ۱۰۵
مرور آشنا ............................................................. ۱۰٦
ګذران ............................................................. ۱۰۷
ښکلې دلربا ............................................................. ۱۰۷
بېخود او بېګانه ............................................................. ۱۰۸
د مینې دیوان ............................................................. ۱۰۹
ننداري ته............................................................. ۱۰۹
زما په څه؟............................................................. ۱۱۰
تخنوه ............................................................. ۱۱۰
نشمه منلی............................................................. ۱۱۱
نه یمه ............................................................. ۱۱۱
یادونه ............................................................. ۱۱۲
په خوب لیدلي ............................................................. ۱۱۲
ګل دی ............................................................. ۱۱۳
ترخې اوبه............................................................. ۱۱۳
شرم او حیا ............................................................. ۱۱٤

پېرزوینه ........................................................ ۱۱٤
غبرګ غښتي ................................................... ۱۱۵
پخلاینه ....................................................... ۱۱۵
مسکا د شونډې ................................................ ۱۱٦
بې جوړه........................................................ ۱۱٦
د ګدر دیدار.................................................... ۱۱۷
پټ اسرار ...................................................... ۱۱۷
ناغه‌داره ....................................................... ۱۱۸
ښایست ........................................................ ۱۱۸
خیر او شر ..................................................... ۱۱۹
کلیواله مینه ................................................... ۱۱۹
شرابې شم...................................................... ۱۲۰
ناز او نزاکت.................................................... ۱۲۰
له کابل ......................................................... ۱۲۱
خوب کې لیدل................................................... ۱۲۱
وابه‌نوړم ....................................................... ۱۲۲
ژاړا او خندا .................................................... ۱۲۲
کله بیا راځې .................................................. ۱۲۳
د زړه آزار...................................................... ۱۲۳
شونډې ......................................................... ۱۲٤
بې‌ننګ.......................................................... ۱۲۵

نه هېرېږي........................................................................ ۱۲۵
یمه که نه یم ................................................................ ۱۲۶
پس پسی.......................................................................... ۱۲۷
په چیغو.......................................................................... ۱۲۷
ستا مسکا........................................................................ ۱۲۸
جامونه ........................................................................... ۱۲۹
لېونۍ ده ........................................................................ ۱۳۰
نه دې هېروم ................................................................ ۱۳۰
تللې دی.......................................................................... ۱۳۱
مینه ستا......................................................................... ۱۳۲
د ناز په تغافل ............................................................... ۱۳۳
یادونه ............................................................................ ۱۳٤
تر انجام.......................................................................... ۱۳٤
لکه ګل پاڼې................................................................... ۱۳۵
رواني اوښکې.................................................................. ۱۳٦
د ګودر خوا .................................................................... ۱۳۷
په سلګو.......................................................................... ۱۳۸
څه مستي وه؟................................................................. ۱۳۸
بېوطنی ... ...................................................................... ۱۳۹
هغسې وشوه ................................................................... ۱۳۹
بېپروا تېرېده ................................................................. ۱٤۰

رسوا صنمه ........................................................ ۱٤۱
جام اخلم........................................................ ۱٤۱
په سلګو سره ځي........................................................ ۱٤۲
ګدا سترګې........................................................ ۱٤۲
سرکرده يې........................................................ ۱٤۳
لېونی شم ........................................................ ۱٤٤
لوبه........................................................ ۱٤٥
د مينې غوټۍ........................................................ ۱٤٦
نه ماتېږي ........................................................ ۱٤٦
نامراد........................................................ ۱٤۷
د محبت تمنا........................................................ ۱٤۷
ګيله ........................................................ ۱٤۸
غنم رنګ ........................................................ ۱٤۹
ومې ژړل........................................................ ۱٤۹



## دربارۀ نشر دیجیتال این اثر

مهاجرت و بی‌وطنی اجباری و تحمیلی، درد بی‌درمانی است که گریبانگیر شماری زیادی از روشنفکران و وطن‌دوستانی شده است که می‌توانستند مانند گذشته‌ها خدمتگار مردم و تحقق آن خواست‌ها و آرزوهای برای آبادانی وطن باشند که از آوان جوانی برای تحقق آن راه مبارزه و پیکار را برگزیده بودند؛ اما سیر حوادث و تسلط نیروی‌های عقبگرا و آلۀ دست دشمنان وطن، چنان سرنوشتی دردناکی را بر آنها تحمیل کرد که هر شب و روز سبب برخاستن ناله و فریاد آنها می گردد.

داکتر سید حسام مل، یکی از همین درددیده‌های وطن است که برای تسکین و یا کم ساختن این دردها، به سرایش شعر پرداخته و «درد دل» را در قالب نظم بیان نموده است.

در مجموعۀ شعری حاضر، اکثریت سروده‌ها بیان دوران جوانی سرودگر و توضیح و تشریح محیط اجتماعی و بازگویی نحو ارتباطاتی است که نسل جوان متحمل آن بودند. به بیان دگر در بسیاری این سروده‌ها، شماری از ما شرایط دوران جوانی خویش را درمی‌یابیم و به یاد آن خطرات تلخ و شرین می‌افتیم.

داکتر مل برعلاوه این مجموعه، مقالات و تحلیل‌های زیادی را دربارۀ حوادث و رویدادهای وطن نگاشته و یا هم از منابع خارجی ترجمه نموده که در ویب سایت‌های هموطنان و صفحات اجتماعی نشر و پخش شده است. برعلاوه مجموعه شعری دگر و چند اثر تحقیقی چاپ نشدۀ دارند که امید در فرصت در اختیار مشتاقان مطالعه قرار گیرد.

انتشارات راه پرچم با اظهار سپاس از رفیق مل که این مجموعه را در اختیار ما قرار داده اند، برایش توانایی بیشتر و صحت کامل آرزو می نماییم.

انتشارات راه پرچم

## د شاعر لنډه پېژندنه

زه پوهندوی دوکتور سید حسام (مل) په ۱۳۲۲ هجری شمسی کال د لغمان ولایت د کله کوټ په کلي کې زیږېدلی یم.

په ۱۳۳۷هـ.ش کال د لغمان د مندراوړ له ابتدايي ښوونځۍ څخه فارغ او په ۱۳٤۲ هـ.ش کال کې د لغمان له روښان لېسې څخه فارغ او بیا په ۱۳٤۸ هـ.ش هجری کال کې د ننګرهار د پوهنتون د طب له پوهنځۍ څخه فارغ شوم.

له فارغېدو وروسته تر ۱۳۷۱ هجری شمسی کال پوری د ننګرهار د طب په پوهنځۍ او د کابل د طب په پوهنځۍ کې د کوچنیانو د ناروغیو په دیپارتمنټو کی د اسیستانت، مدرس، او د دپارتمنټ د شف په صفت می دندې سرته رسولې دي.

تخصصي تحصیلات می د انګلستان د لیورپول په یونیورسټۍ کی په تروپیکل یا حاروی ناروغیو کې سرته رسولې دي. علاوتاً په همدې موده کې سر بیره په استادۍ چی هم د ننګرهار د طب او د کابل د طب شاګردانو ته مې درس ورکړی، د روغتیا په وزارت کی د مور او د ماشوم د ساتنې د رییس، د باندنیو اړیکو رییس او د معین، په ټوګه می هم دندې تر سره کړې دي. همدا راز تقریباً له یو کال نه زیات د لغمان ولایت والی وم.

له ۱۹۹۳ عیسوی کال را په دې خوا د خپلې میرمن او کوچینیانو سره په جرمني کې د مهاجرت او مسافرۍ شپې او ورځې یو بل پسې تېروم.

مخکې مې کله شعر نه ؤ ویلي، یواځې دلته په مهاجرت او مسافرۍ کې کله ناکله د زړه براس د نظم په قالب کی باسم.

پوهندوی دوکتور سید حسام «مل»

## اوښکې

چې دې وویـنـم لـه ځـانـه خـپـلـه ځـمـه
چې لـــــه ما نـــه شې پنـــاه درپـــسې مرمـــه
دواړه ســـــترګې دې مـــهـــر افشـــــانی کـــا
پـه بـېـلـتـون کې دې تـل اوښـــکې تـویـومـه

## د مين ژړا

چې د چـــا زړه د چـــا پـــسې وي تـــــللی
هغـه پر ځـان بـانـدې هر ربړې وې منلی
چې د چا لاس دام د زلف کې وي بند شوی
پر خپل زړه باندې د هغې وي واک وتلی
چې نظر د تورو سترګو دې شوی وي پر چا
هـــا د هـيـلـو ســـمـنـدر کې وي لـوېـدلی
مينـــه هـــسې احساس د عاطـــــفی دی
چې د يـار پـه بـېـلـتـون هـر مـين ژړلي
مينه هـــــسې دلـــګرمی دې داکتر «مله»
چې فرهـاد د لاس پـه ګوتو غر کېنـدلی

جرمنی ۲۰۱۳-۱۰-۱۵

## راوريبري

پــه کتو کې يې مينــه را وربـــــــــري
د ښـکلا شـغله يې هرېخوا ځلبـــــــري
د ښــايســت جوړه يې نشــته په جهان کې
ســپوږمۍ له شرمه وربځو کې پټيـــــــــري
چې پــر چــا يې نــظـر وشي يــو ځــلې
بيا د هغې په دام د زلفو کې بنديـــــــــري
چې په شـونډو کې مسکا را وټوکيــــــــري
هسې ښکاري چې ګل غوټۍ وسپړيـــــــري
«مل» هرڅومره چې د هغې صفت وکړم
د هغې په صــفت ژبه نه ودريـــــــــري

جرمنی ۱۳ ۲۰-۱۰-۱۱

# مین یم

د سینې جوړه هیلۍ یې مې یادېـــــږي
تل د ذهن په څپو کې مې نښېـــــږي
لاهو کېـــــــــږمه د مینې په اباســین
له ما وړي یار هم عقل او هم دین
**
هــسې کېـــــږمه پردی له خپله عقل
چې د خیر او شر کوېې نشـــم اټکل
یا په شرم او په حیا خپل نه پوهیـــږم
بېمجـالـه هر خوا ګرځم جګرخون
**
یـار ادا او کرشـــمو کې بېجوړه دی
هرکلام یې لکـه شـــاتو خوږه دی
چنګې وروځې یې هلال د نوې میاشتې
تورې ســترګې مخ مالګېن د ماهجبین
**
نه دی پاتې نور په «مل» کې تحمل
ځمه ورمه ورته غـټ ګیډۍ د ګل
ورتـه وایـمـه راز د خــپـلې مـیـنې
چې پر تـا بـانـدې لـه وختـه یم مین

جرمنی ۲۰۱۳-۹-۰۸

## د جفا نښې

چې مې له سترګو اوښکې ځي ستا د جفا نښې دي
چې درپـــسې پـــه چيغو ژاړم د صفا نـــښې دي
يوځـل دې ونـه کتـل مـا تـه چې څـه حـال لرم
چې ما ته نه ګورې دا ټول ستا د جفا نـــښې دي
بې د ســتا مينه مې په زړه کې د چا مينه نشــته
دا چې پر ما يې ډېره ګرانه زما د وفـــا نـــښې دي
لــمـړی کـاتــه دې چې را يــاد شي ژړا راشي
له «مل»نه مخ چې ګرځوې د ناســزا نــښې دي

جرمنی ۲۰۱۳-۱۰-۰۶

## دلګرمي

بې د مـيـنې نـه لـرم بـلـه دلـګـرمي
نـه پـه مـال نـه پـه جلال نـه پـه څوکي
زما هيله او هدف د يار وصـــال دی
اوســـېدل د يار سره وي خوشـــبختي
د ناصـــح نصـــيحت نه لري هېڅ ګټه
مـا تـه ګران دې بې لـه يـاره جـدايي
چې څوک مـا منع کوي د يـار لـه مينې
هغـه کـانـدي مـا سره لوڅ دښـــمني
د يار مينه ما ته «مل» غټ سرمايه دي
هم مې مينه هم مې ژوند هم مې هســتي

جرمنی ۲۰۱۳-۷-۲۰

## د مینې رنګ

چـا سره چې نـه وې د مـیـنې رنـګ
هغې بـانـدې دا نړۍ وي همېش تنـګ
د مین زړه تــه عشـــق قوت بخــښي
عشــق د آینې له مخې موړی تېره زنګ
دوه پردي سره کوي عشــق خوړ آشــنا
عشـق نفرت لري له بغض او له جنګ
عشق بولي هر څوک مینه او محبت ته
عشــق کې تل وي مســتی بې آب د بنګ
مینـه مـا تـه راکوي «مـل» تـل خوښي
هغه وخت چې مې آشـــنا وي په څنګ

جرمنی۲۰۱۳-۱۱-۴

## نه ځایږي

صـفتونه دې کتاب کې نه ځایـــــــږي
په دیدن دې مې هېڅ تنده نه ماتېـــــږي
مینه ستا مې په زړه هـــسې اوربل کـــړي
چې د سیند په یخ اوبو هېڅ نه سړېـــږي
لېوني په شـــان تل ګوتې خپل شـــمارم
په بېلتون دې مې هېڅ اوښکې نه وچېږی
چې دې ونـه وینم ځـان راځنې ورک شي
بې له تا مې ژوند له سره نه خوښېـــږي

جرمنی۲۰۱۳-۱۱-۴

# د مینې غم

زړګیـه ګوره چې د عشـــق غم پرتـا څـه وکړ؟
پرهغې یـار چې نـازېـدې هغې پرتـا څـه وکړ؟
مخ لـه تـا واړول هغې شـــو د بـل چـا صـــنم
یواځې پرېښـــودې تورتم کې بېوفـا څـه وکړ؟
د مسـتقبل هیلې دې ټولې شـوې سـیند کې لاهو
اوس پـه خیـالونو کې ډوبېـــــړه نـاروا څـه وکړ؟
نه پوهېدې چې عشق اور دی سر او تن سوځوې
اوس په دې اور کې «مل» سـوزه چې تا څه وکړ؟

## غم غلطوم

ځمـه بیـا نن میکـدې تـه غم خپـل غلطوم
غـوارم هـېر کـړم غـمـونـه پـیـمـانې راتشــــوم
پخپـل ځـان نشـــمـه پوه مـا چې ولیـد مـاه‌جبین
پـه ګـذار د تورو ســترګو رانـه یوړ عقـل او دین
پـه چـرتُـونـو کې لاهـو کـړم خـاطـر یې یـادوم
ځمـه بیـا نن میکـدې تـه غم خپـل غلطوم
**
په ترخو او بو مې مســت کړه ســاقي لرى مې که غم
د هجران په لمبو ســـوځم له دې حال مې که بېغم
راکــوه ډکې پــیــالې چې پــر سر خــپــل واړوم
ځمـه بیـا نن میکـدې تـه غم خپـل غلطوم
**
مطربه هغې نغمې ساز که چې نېشه کې مې یار راشي
چې د «مل» حالت وګوري د غمجن زړه مې دوا شي
بیګـانـه مې کـه لـه عقلـه ترخو اوښـــکې تویوم؟
ځمـه بیـا نن میکـدې تـه غم خپـل غلطوم

جرمنی۲۰۱۳-۱۱-۳

## د مینې پارېدل

د سـېـنې څوکې دې مینـه پـاروي
انـګـېزې د مـعـاشرت را بـونـوي
چې دې سترګې ته د چا سترګې شي ځیر
سـتـا نظر د هغې زړه را تخنوې
په ریښـتیا چې ته د زړه درد ته دواېې
چې بـیـمـار زړونـه لـه سره رغـوي
ته د «مل» په نظر هغه ښـاپېرۍ یې
چې شـایسـته مخ دې شـغلې خپروي

## ستا صفتونه

صـفتونه دې لیـکم په قـلم
جـوړه نه لـرې خوبانو کې صـنم
چې مسـکا سـتا په شـونډو کې ښـکاره شي
لـګـوي د زړه ټـپـونـو کې مـرهـم
تـه په اصـل کې کوربـه د معـاشرت یې
چې لـه زړونو وړې هروخـت درد و غم
چې د ستا په قیمت څوک نه پوهېـږي
هغـه نـه لری پر ځـان لطف او کرم
«مل» بېتا او ته بې «مل» نکړې هېڅکله
خـدای مـو وسـاتي د هـجـر لـه الـم

## د زلفو وږمې

وږمې ســـــتـا د زلـفـو نـوی ژونـد راکـوي
د سرو شــونډو مســکا دې عجب خوند راکوي
**
راتـک دې مې ســـــترګې ســــتـا لارې څـاري
هوس مې ســـتا د ســـترګو نظارې رانه غواړي
نـاصـــح راتـه ببځـایـه پـه غوږ پـنـد راکوي
وږمې ســــتـا د زلـفـو نـوی ژونـد را کـوي
**
ببلتون د یار ما تـه نـاصـــح غـټ پېغور دی
د ستا له دې خبره مې په زړه کې شر او شور دی
مزه د یار د شـــونډو عســـل او قـــــند راکوي
وږمې ســــتـا د زلـفـو نـوې ژونـد راکـوي
**
لـه تـا نـه مې یـار خـدای نکړي هېڅکلـه جـدا
د خـدای شـــکرانګي دې چې يې مـا سره پخلا
رقیـب زمونږ پـه لاره کې «مـل» خنـډ راکوي
وږمې ســــتـا د زلـفـو نـوې ژونـد راکـوي

جرمنی ۲۰۱۳-۱۱-۲

# ستا یاد

یادونه دې مې ستا ښکلې کوڅې ته وړي
بېلتون دې مې صورت د اور لمبې ته وړي
چې کله شم یوازې ته مې شي را یاد
هوس مې ستا د سترګو کرشمې ته وړي
غیبی آواز دې اورمه تل په خیالونو
آهنګ ستا د آواز مې خوږو نغمې ته وړي
زه نه یم تا سره مګر ته د «مل» سره یې
انځور دې زما سترګې نندارې ته وړي

جرمنی۲۰۱۳-۱۱-۱

# راسره یې

هــومــره تــه چې راسره یې فــکــر نشـــتــه راسره
زړه چې تـــا پـــسې تللی پـــه زړه تــه یې راسره
**

چې له سترګو مې پناه شې ساه مې تا پـــسې خېـــرې
له خپل حاله ځنې ووزم اوښکې هېڅ مې نه درېــــرې
د ځُرتونو په اباسـین کې لاهو کېـــــــــــږم درسره
هــومــره تــه چې راسره یې فــکــر نشـــتــه راسره
**

که د ســـترګو اشـــارې دې په کتو مې خواته نه وای
یا مسـکا که دې په شـونډو په لیدو مې خواته نه وای
مـا بـه ولې زړه بـایللـــــه زړه مې نـه تلـه درسره
هــومــره تــه چې راسره یې فــکــر نشـــتــه راسره
**

چې د ځان سره تنها شـــم ســـتا انځور اخلم په لاس
اوښکې ځي مې له چشمانو ځم په ځُرت او په وسواس
تســـلې مې پــه دې شي چې دې انـځـور دې راسره
هــومــره تــه چې راسره یې فــکــر نشـــتــه راسره
**

ســـتـا انـځـور سره هـروخــت مـرکې د ژونـد کـوم
ورتـــه ډېر هـــسې پـــه میـــنه افسانې په خوند کوم
په غزل کې دې ســـتایم یاد دې تل دی «مل» سره
هــومــره تــه چې راسره یې فــکــر نشـــتــه راسره

جرمنی ۲۰۱۳-۱۰-۳۱

## غزل لیکم

کلـه نـاکلـه ســـتـا د زلـفـو غـزل لـیـکـم
ســتا د ښــایســته دواړو ســترګو تور کجل لیکم
چې ســـتـا د سرو شـــونډو مســـکا شي را یاد
ســـتـا د زلـفـانـو تـاو پېچ الـول لـیـــکـم
پـه تصـــور کې ســـتـا سره د زړه خوالـه کوم
ستا د ښایست صفت د خپل زړه په درشل لیکم
ما د خپل مینې احســـاس تا ته په ښـــکاره وېلی
یو ځلې بیا دغـه احســـاس تـا تـه بلکل لیکم
«مل» دې بېلتون له ســـره هېڅ زغـــملی نـــشي
راز د خپل زړه جانانه تا ته ســـل په ســـل لیکم

## نه ومه شاعر

نـه ومـه شـــاعر کلـه مې شـــعر وېیلی نـه ؤ
زړه مې چـا پـه مینـه هېڅ پـه زور وړی نـه ؤ
دا تـه وې چې پـه نـاز او کرشـــمو دې کړم مین
مـا هېڅکلـه د چـا نوم پـه کـاغـذ لیکلی نـه ؤ
تا چې اوس مین کړم ســـتا د ســـترګو غزل لیکم
ځکه چې مې ســـتا په شـــان بدرۍ لیدلې نه ؤ
تـه چې راتـه ګورې لـه خوښـــیـه مې ژړا راشي
«مـل» د چـا پـه مینـه کې هېڅوخـت ژړلینـه ؤ

جرمنی ۲۰۱۳-۱۱-۱

## بېلتون

ســـتـا د مينې پـه تـاثير هغـه وخـت پوه شـــم
چې ته لاړې اوښــکې ډنډ مې شـــوې په ســـترګو
هـــومـــره تـــا پـــــسې مې يـــــار ډېـــر وژړلي
چې مې لوند شـو ټول ګريوان په سـيل د اوښـکو
**
نـه وم پوه چې ســـتـا بېلتون پر مـا اثر کړې
چې لـه ځـانـه مې پـردی او در پـه در کـړې
يـا لـه ژونـده مې بـېزار خـاورې پـر سر کـړې
بـيګـانـه مې لـه خـپلـوانـو او نـوکـر کـړې
**
اور دې مينې ســـتـا مې ګـډ شـــو پـه رګو کې
خبـــــــــــرې خولې نه مې لوګې هره شـــېبو کې
چې يـوائې شـــم ژړا مې نـه درېـــــــــــــږي
مـالګېن مخ دې هر ګړئ زمـا يـادېـــــــــــرې
**
«مل» شم پوه اوس په ريښتيا چې مينه اور دی
چا چې زړه پر چا بايللی د عشـــق شــور دی
واک د زړه د زړه بـايـلـلې واک کې نـه وې
غواړې خپـل دلبر لـه هېچـا پې بـاک نـه وي

جرمنی ۲۰۱۳-۷-۱۷

## آب بقا

د تــیــارې لارې رڼــا مې تــه یې تــه یې
خوږ آشـــنـــا او دلربـا مې تــه یې تــه یې
ســـتا له هجره ټپي شـــوی مې ځیګر دی
د هــر ټــپ دارو دوا مې تــه یې تــه یې
چې له تا ځنې بېلېـــــــږم غم مې زیات شي
د هوســـا ژونـد راهنما مې تـه یې تـه یې
هېڅ جوړه دې پــه خوبـانو کې نشـــتــه
لنـډه دا چې محـبـوبـا مې تــه یې تــه یې
چې ته نه اوسېږي «مل» هېڅ نه اوسېږي
د ژونــدون آب بــقــا مې تــه یې تــه یې

جرمنی۲۰۱۳-۸-۱

## تا پسې ژړا

ســـتــا وربــل تــه مې ګلان را ټولـول
ســـتــا یــادونــه مې لــه سره یــادول
په اباســین ســتا د نخرو کې وم لویدلی
تـه هم نـه وې چې مې لاس دې رانیول
ســتــا سره مې پــه خیـال کې مرکـه وه
ســتا په شـونډو کې مســکا وه ټوکېدل
زما په زړه کې دي هــسې ځـــای نیولې
چې په خوب کې هم «مل» تا پسې ژړل

جرمنی۲۰۱۳-۷-۱۸

## نشم کولای

که زر ځله مې کړې منع له تا هېڅ بېلېدای نشـــم
هـــــسې میـــنه کې دې پایم تا لـــه زړه ایستلای نشم
ته چې څومره په قهرېـــــږې هومره مینه مې زیاتېـــږي
ســـتـا د مینې لـه مـاحولـه ولا هېڅ وتلی نشـــم
زړه چې هرځه صـــبروم نصـــیحت زما هېڅ نه اوري
که ته هرڅومره نادودې کړې هېڅ له تا تیرېدای نشـــم
ستاپه مینه کې اوس«مل» عام او خاص کې رسوا شوی
ســـتـا کوڅې تـه بـه درځم ژونـد بېتـا کولای نشـــم

## سزاوار د سزا

چې را یـاد شې پـه ژړا او واویـلا شـــم
زړه غمجن، ژونـد بېخونـد سر پـه ســـودا شـــم
څـه مې کړي چې روزګـار مې نـه ســمېـــــــږي
چې پـه کـلي او پـه ښـــار کې رســـوا شـــم
ســـتـا پـه مـیـنـه بـانـدې ډېـر نـازېـدمـه
مـیـنـه څـه چې اوس د خـلـکـو د خـنـدا شـــم
نـنـوات مې پـرتـا هـېـڅ تـاثـیر ونـکـړ
هـــــسې۔ زه «مل» سزاوار بیا د ســـــزا شـم

جرمنی ۲۳۰۷۰۱۰۱۳

# کرشمې

چې دې مینه زړه ته نه وه څه حاجت وه کرشمو ته
تـا زمـا خو ژونـد تباه کړ مخـامخ دې کړم غمو تـه
تـا پخپـل عهـد او پیمـان هېڅ لـه سره وفـا نکړه
زه دې پرېښــودم یوازې د ښېلتون سرو لمبو تــه
ته زما له ننواته اخلی خوند هـــسې چې پــوه شم
ما هم ســتا نخرې کتلې چې تا غوښــتی یم کتو ته
لېونی به درپــــسې شــم بــیا به وکــړې ارمانونه
«مـل» سره مینـه وکړه اړ یې مـه بـاســه پردو تـه

# ستا سترګې

چا چې ستـا سترګې لیدلې په ښېلتون دې ډېر ژړلي
لېونی سر پـه صــحرا آرام ژونـد خپـل بـایللی
هغه ستا چنګې وروځې، تور بانه، مسکا د شونډې
هر شــېبه چې د چا یاد شي له ګوګله یې زړه وتلی
ته د خپلو کرشـمو په تاثیر هېڅ نه پوهیــــــږې
چې د ســتا په هر کاته کې اندامونه یې لړزېدلي
ته د ښکلو هغه میره یې چې دې هېڅ ساری نشته
ســتا له حســن او جماله ګل په بڼ کې شرمېدلي
«مل» خو هــسې بېځایــه پرتا نه دی مین شوی
لـه هغـه ورځ چې مې لیـدلې پرتـا زړه مې بـایللی

جرمنی ۲۰۱۳-۷-۱۶

# تا سره مرکه

تـا سره مې مرکـه وه خـوب لـه ســـترګو وه مې تللی
اړخ پـه اړخ را تـاوېـدم ســـتـا یـادونـه یـا دیـدلی
ســـتا انځور مې په مخ ته پروت وه ګرېدمه ورسره
بیا په ســـترګو مې موږل اوښــکې زما پرې څڅېدلی
انځور ســـتـا نـه ګرېـدلـه پـه مســـکا را تـه کتلـه
دا زمـا بـدقســـمتی ده چې بېتـا یم ځورېـدلی
نه پوهیږم چې څه وکړم لاره ورکه ده له ما «مله»
په ګناه خپل نه پوهیـــــږم چې پرتا مې زړه بایللی

جرمنی۲۰۱۳-۶-۳۰

# زړه زما وه

تـه د کومې را پیـدا شـــوې چې دې چور لېونی کړم
عقل وتښتید له سر مې له خپل ځان نه دې پردی کړم
**

چې مې وکتل ستا خوا ته ستا په شونډو کې مسکا وه
وروځې چنګ، باڼه نیښـتره نښـه کړې دې زړه زما وه
سر په سـر غبـشی دې راغی په زړه هسې دې ټپي کړم
تـه د کومې راپیـدا شـــوې چې دې چور لېونی کړم
**

زما له څنګه چېرې مه ځه په دیدن دې مې موړ که
د بېلتون د اور لمبې پـه خنـدا سره دې ســـوړ کـه
هـــسې زړه تـــه مې نژدې شه چې دې ښکل اننګی کړم
تـه د کومې را پیـدا شـــوې چې دې چور لېونی کړم
**

ریښتیا پټ نه پاتې کیـــږی آشنا ډېره مې خوښېــــږي
ســـتا به نه راځې باور زړه مې تا ته هوســـېـــــــــږي
مه ښوریـــږه مې له څنګه چې مې لاس ستا په پېکی کړم
تـه د کومې را پیـدا شـــوې چې دې چور لېونی کړم
**

«مل» سره عهد و پیمان که چې له ما به نه بېلېـــږي
ترهغه چې زه ژوندی یم ته به ما سره اوســېــــــــږي
زه بـه هم لـه تـا نـه جـار د ګلانو غـټ ګېـډۍ کړم
تـه د کومې را پیـدا شـــوې چې دې چور لېونی کړم

جرمنی ۲۰۱۳-۶-۲۹

## روانې اوښکې

نه مې سترګې پرې لګېـــږي نه مې زړه ورنه صبرېـــږي
لېونی څېرې ګرېوان لالهاند ژوند مې تېرېــــــــــږي
کاشــکې نـه مې وه لیـدلې یا مې نـه وه زړه بـایللی
د بېلتون په اور کې سوځم اوښکې هېڅ مې نه درېـږي
پوهېدم چې عشــق اور دی ســوځوي ټول اندامونه
ما اوس کړی پکې کور دی اندامونه مې سوځېـــــږي
ولې نـه راځې مې خوا تـه هـا زمـا د زړه صــیـاده
ترڅو لاره به یې څارم غم مې هېڅ نه کمېـــــــــږي
کـه مې بیـا پر مخـه راشي هغـه رمنـده هوسۍ
د پل خاورې به رانجه کړم که پر«مل» بیا ورحمېږي

## مروره

نــه دې وینــم نــه دې اورمــه خــبره
تــه پــه څــه لــه مــا نــه شــوې مــروره
ډېره موده شــوه چې ســتا لاره آشــنا څـارم
ولې نــه راځې مې خــوا تــه د زړه سره
مینه ستا مې پــه زړه هــــــسې اوربل کـــړی
چې لوګی مې خېـــــــــږي هر وخت لـه ځیګره
راشــه شــونډې دې په شــونډو کې مې کیــــــږده
چې د «مــل» ارمــان پــوره شي نــخــره ګــره

## پټ کتل

پـام دې نـه وه مـا لـه لرې درکتـل
نښـــه يې دا چې تا وربل کې لاس وهل
ډارېــدمه چې نظــر دې پر ما نـــشي
چې مې نکړې محروم لـه خپـل ليـدل
مـا پـه دې ګناه مـه نيســـه هېڅکلـه
ځکـه تـا لـه مـا هر وخـت مخ پټول
خوش چانسي مې ده چې ګورم دې وړيا
ستا بېلتون کې ما «مل» هسې ډېر ژړل

۱۳-۷-۲۰۱۳

## پوه نه شوې

نه شـــوې پوه هېڅ په ميزان زما د مينې
راشه زړه کې مې لاس کيــــږده ماه‌جبينې
دروغ نه وايم په زړه کې مې ستا ځای دی
ســتا پر سر مې دی قســم وي زما شرينې
دا چې هره ورځ په لاره کې دې ناست يم
دا زمـا د مـينې نشـــان دی نـازنـينې
راشـه کښېنه مې ترڅنګ چې خواله وکړو
چې د «مل» ژونـد شي د تـا سره رنګينې

جرمنی ۱۳-۷-۲۰۱۳

# د یار ځورېدنه

ګوره مــه مې ځوروه یوه ورځ بــه دې پکـار شـــم
هغه وخت لا لېرې نه  دی چې زه ستا د مینې یار شم
**
تـه لا پوه پـه ځـان نـه یې مـا چې زړه پرتـا ورکړی
کـه یـاري مې تـه قبول کړې سر لـه تـا مې جـار کړی
ما پر ځان نظر منلی چې که ســتا د بڼ ملیار شــم
ګوره مــه مې ځوروه یوه ورځ بــه دې پکـار شـــم
**
پام دې نه وه ســتا ما ته ما چې تا ته پټ کتل
چې تـا مـا تـه کتلـه مـا خپـل سر ټیـټ اچـول
غلچکې لوبه روان وه چې لایق ســتا د دیدار شــم
ګوره مــه مې ځوروه یوه ورځ بــه دې پکـار شـــم
**
چې لـه تـا شـــمه جـدا فکر ځي مې ســتا خوا تـه
درسته شپه مې یادېــــږې، شپه مې نه کیـــږی سبا
غملړلی ســـودایی لـه بېلتون دې پـه انګـار شـــم
ګوره مــه مې ځوروه یوه ورځ بــه دې پکـار شـــم
**
که زما او ستا یاري کې څوک مخـــل پیـــدا نــــشي
یا زمـــا او ســـتا پټ راز ببېجـــهته رســـوا نــــشي
یارانه به «مل» کومه که یاری کې سر پهدار شــم
ګوره مــه مې ځوروه یوه ورځ بــه دې پکـار شـــم

*جرمنی (۱۳ ۲۰-۵-۲۱)*

## پسرلی راځي

تــه چې راځې پـــــسرلی راځي
وړمې د ګل ســتا د پېکی راځي
د مخ رڼـا دې تـروږمی ورکوي
د مین کور تـه ســپوږمۍ راځي
تـه پر ټپو بانـدې مرهم ایږدې
نن د ښـــایســـتوو نـاوکۍ راځي
په بڼ کې رنګارنګ ګلان غوړېږي
زمـا د بڼ نـن ګـل غوټۍ راځي
زیـری پـرتـا وي زمـا «مـلـه»
ســتا آشـــنا مخ مالګېنۍ راځي

جرمنی ۲۰۱۳-۱۱-۸

## د بنګړو شرنګ

بیا دې لېچو کې بنګړي را شرنګېـــــږي
بیا مې زړه ستا وصال ته هوسېـــــږي
ته زما د سـینې بـــــــڼ کې هغه ګل یې
چې په بل یو ګل مې سترګې نه غړېـــږي
تا چې ووینم ســترګې مې روښـــانه شي
په لیدو دې مې سـترګې نه مړېـــــږي
زمـا پـه مینـه کې ریـا او دوکـه نشـــته
بې له تا د «مل» هېڅوک نه خوښېږي

جرمنی۲۰۱۳-۱۱-۸

## ګل بدنه

تـا لـه ځـانـه کلـه کړې دا پوښـــتنـه
پر مـا بـه هم یو څوک وي مینـه؟
هوکې زه یمـه مین ســـتـا پـه جمـال
له بېلتونه دې یـــم ډېره غمـــــجنه
جوړه نه لرې په ښـــکلو او خوبانو کې
ځکه زړه مې در پـــــسې. دی لوغړنه
زړه مې ســتا د پاکې مینه کوربه شــوی
ته پرمل بانـدې ډېرګران یې ګل بدنه

# رقیب

چې د ښــکلو په محفل کې نه غماز وي نه رقیب
خوشحالی وي، محبت وي هم مین وي هم حبیب
ژونــد بېمـیـنې او مـحـبـت هـېـڅ نـه ارزي
هغو نـه لري هېڅ غم چې حبیـب یې وي قریـب

جرمنی ۲۰۱۳-۱۱-۷

# مینتوب

سړی یو ځل مین کېــــږي په ګذار د تورو سترګو
دلربا ته تسـلیمېــــــږي په ګذار د تورو سـترګو
د دلبر د باڼو غبــشی چې د چــا په زړه داخل شي
زړه د هغې له واکه ووزي په ګذار د تورو ســترګو
چې د چا په للمو شونډو د دلبر شونډې باران شي
ها له سره ځوانېــــــږي په ګذار د تورو سـترګو
دا چې مینه او محبت د انسان طبعی سرشت دی
مینه «مل» تل زیاتېـــږي په ګذار د تورو سترګو

جرمنی ۲۰۱۳-۱۱-۷

## د صیاد ښکار

زه د هغې صیاد ښکار یم چې ګذار یې خطانه وي
هر غیــــشی د بــاڼــو یې له هدفه جلا نه وي
د بـاڼـو پـه تـېرو غشــــو زړه ولي وار پـه وار
د هـغې پـه آیېن کې ترحم هېڅ روا نـه وي
هـر ګـذار یې د بـاڼـو د مـکـیزو سره مـل وي
ګـذارونـه یې هېځکلـه بېخنـدا او ادا نـه وي
د خپل صـید له تماشې اخلی خوند داکتر «مله»
په زړه نه لري هېڅ رحم پر هېچا یې پروا نه وي

جرمنی۲۰۱۳-۱۱-۶

## څومره خوښېږي

تېوس مه کوه جانانه چې مې څومره خوښـېږي
چې بېتا مې پر هېچا سترګې بلکل نه غړېـــــــږي
دې کې نشـــته هېڅ ریا یوځل رنګ ته مې ګوره
چې په سترګو کې مې اوښکې هېڅ نه درېـــــــږي
زړه مې اوس له خپل واکه والله چور دی وتلی
چې پناه مې شې له سترګو زړه مې تا پسې کړېـږي
جـانـانـه تـه مې اوس د ژونـد هغـه بلـه ډیوه یې
چې بې‌تا پر ما «مل» ورځې هېځکله نه رڼا کېږي

جرمنی۲۰۱۳.۰۵.۲۱

## د مینې لمبه

لمبــه ســـتــا د مینې مې بــل ده پــه رګو کې
زنګېــــــــږمه مدام ســـتا د مینې په زانګو کې
ســترګې مې ســتا له وصــاله نه مړېــــــــــږي
چې ونـه وینم تـا ځم هغـه ورځ پـه ځُرتو کې
بېلـتـون دې اوس نشــــم لــه سره زغـملی
تړلی مې دی لاس ســـتا د زلفو په حلقو کې
ورمې دی را کوی راتـه احســــاس د محبت
آواز د بنګړو دې رسی خیال کې مې غوږو تـه
هغه وخت به د «مل» د مینې تنده شي مات
چې وګرځم د یـار سره د وطن پـه سردرو کې

## چې نګار نه وي

څـه بـه کړم ګلونـه چې مې یـار نـه وي
باده نه وي، ســـاز نه وي بهار نه وي
نـه ورځم هر چـا سره د بڼ پـه لور
څو چې مې په څنګ کې خپل نګار نه وي
څـه بـه کړم پردی چمن پـه ګلو ډک
ځم هغـه چمن تـه چې اغیـار نـه وي
نه اخلم د ســـاقي له لاســـه جام د مې
څو چې یـاران ټول پـه ننګرهـار نـه وي
نه کښېـــنم د هرې ونې تر یخ ســـیورې
ســـیورې د مملې چې د چنـار نـه وي
نـه غواړم چې واورم «مل» پردۍ نغمې
شرنـګ د بنګړو چې د دلـدار نـه وي

جرمني ۲۰۰۶-۲-۲۷

# ډار

له کلوکلو راهـــــيسې در پــــــسې مـــا تـــل ژړل
لـه حيـا او لـه ډېر ډاره هېڅ مې تـا تـه نـه ويـل
کلـه کلـه چې کـوځـه کې مـخـامـخ سره کـېـدو
سـتا د مينې په لمبو کې ټول صـورت مې سـوځېدل
هېڅ جرأت په ما کې نه وه چې خپل مينه کړم عيان
تـا چې مـا تـه ځير کتـل ســترګې مـا ټيـټ اچول
تـا را وپوښـــت چې پر ما ســـتا مينـه کله راغلـه
تـا مـنـګی چې هـغـه وخـت پـه لـپـو ډکـول
په جرأت اوس درته وايم چې زه«مل» پرتا مين يم
خپله پوه شــه چې ســتا لاره ولې تل ما رانيول

جرمنی۲۰۱۲-۲-۲۰

# د اوښکو باران

ســـوزم په بېلتون کې دې لاس له جفا واخله
مخ دې را ښـــکاره کړه یا لاس له سزا واخله
**
ځاځي مې لـه ســترګو نـه د اوښــکو بـاران
خـوار و حیران ګـرځـمــه څېرې مې ګـرېـوان
راشـــه یار تر څنګه مې لاس لـه حیا واخله
ســوزم په بېلتون کې دې لاس له جفا واخله
**
واک مې له لاس وتی چې لاس واخلم له مینې
نه مینه ســـتا په زړه مې دي نه وځي له وینې
تـه مینـه په ریښـــتیا کوه لاس له ریا واخله
ســوزم په بېلتون کې دي لاس له جفا واخله
**
باور دې پر ما نشـــته له غمه کړېـــــــــږم
سرلوڅ لېونی ګرځم ځان سره غږېـــــــــږم
زړه دې رانـه وړی دی لاس لـه غلا واخلـه
ســوزم په بېلتون کې دي لاس له جفا واخله
**
زړه دې یار لـــه تیګونه هـــــسي ډېـــر کلکه
ژونـدنــه دي بـېزار کــړمــه لاره رانــه ورکـه
مینه دې ناکام شو «مل» لاس له آشنا واخله
ســوزم په بېلتون کې دې لاس له جفا واخله

جرمنی ۲۰۰۶-۲-۵

# غلچکې نظر

زه ښــکلې پســند یم ســترګې مې د یار ښــکلې دی
نــاز يې پــه لبمو اخلم مــا پــه ځــان منلې دی
**
سترګې د آشنا مې ډېر رمنده ښـــکاري غېـــشی
د بــاڼــو يې تــيز او بــرجســـتــه ښـــکــاري
مــا چې يــار ليــدی دي زړه مې پرې بــايللی دی
نــاز يې پــه لبمو اخلم مــا پــه ځــان منلي دی
**
نشــته په نړی کې داسې شــان ښــايســته بدرۍ
غلـچکې نـظـر يې نشـــتــه پــه بـل ښـــاپيرۍ
د مينې خولګۍ تــه مــا حيــا د لاس ورکړئ دی
نــاز يې پــه لبمو اخلم مــا پــه ځــان منلی دی
**
کله چې په شــونډو کې د يار شي مســکا پيدا
هـــــسې چې ګل غــوټۍ کړې په بڼ کې نرۍ خندا
ګل تری نه شرمېږي «مل» له وخته ما وېيلی دي
نــاز يې پــه لبمو اخلم مــا پر ځــان منلي دی

جرمنی ۲۰۰۶-۳-۱۰

# اباسین کې ...

خنـدا مې لـه خولې تللې د فراق لـه زور زيـاتی
نـه مخ د صـــنم وينم نـه هغـه مينـه پخوانی
**
سر شـــکتـه زنګنو کې تـرمې اوښـــکې تـويوم
څپېړې هره ورځ د بېلتـانـه پـه مخ خپـل خورم
په خوب کې يې هم نه وينم ښايسته مخ د بدری
خنـدا مې لـه خولې تللې د فراق لـه زور زيـاتی
**
پخپل لاس مې د مينې اباســين کې ځان خطا کړ
لامبو نـه پوهېـدم ځـان پخپلـه مې رســوا کړ
پـايـا و نـه لرم هېڅ يـار هم خوا تـه نـه راځي
خنـدا مې لـه خولې تللې د فراق لـه زور زيـاتی
**
په مينه د آ شـــنا کې مې کمي هېڅ نـه ده کړې
هـا څـه چې فرمـايلي مـا پـه سر ســترګو منلي
لـه «مـل» مرور شـــوي هغـه رمنـده هوسی
خنـدا مې لـه خولې تللې د فراق لـه زور زيـاتی

جرمنی ۲۰۱۰-۳-۲۳

## د مینې وړانګې

دا څنګـه یـارانـه ده چې مې خواتـه نـه راځې
چې ځیر وګورم تـا تـهُ مخ بـل خوا تـه اړوې
**
هغه ورځ مې یادېـــــــــږي چې مې تا ته وکتل
ما خواســـت د مینې وکړ له تا، تا هم ومنل
چې مینـه کې دي پـایم نور مې ولې ځوروې
دا څنګـه یـارانـه ده چې مې خواتـه نـه راځې
**
سل ځله که په مخ ستا د ناز څپېړې وخورم
یا ســتا په جدایي کې د زړه وینې چېرې وڅکم
لاس وا به نه اخلم له ستا نور مې ولې ژړوې
دا څنګـه یـارانـه ده، چې مې خواتـه نـه راځې
**
دا ســـتا د مینې اور مې په زړه کې بل شـــوي
دا ستا د باڼو غــــېشی مې ســینه کې لګېدلي
د «مـل» د زړه معمـاره نور مې څلـه کړوي
دا څنګـه یـارانـه ده چې مې خوا تـه نـه راځي

جرمنی ۲۰۰۶-۳-۵

## د آشنا سترګې

په غلچکي نظر مې ولید د آشــــنا ســـترګې
د تور بـاڼو لانـدې مې ولیـد د ادا ســـترګې
چې ورنژدې شــم ځیر مې وکتل ســـترګو ته یې
پلو یې لېرې کړه ما ولید د مســـکا ســـترګې
تر تور باڼو لاندې ســـترګې خماری وې د یار
څه عجب ښـــکلې بېجوړه او د وفا ســـترګې
د آشنا سترګې پر «مل» څه سحر او جادو کړ
چې هغه وخاندې د «مل» شي په ژړا ســترګې

جرمنی۲۰۰۶-۳-۵

# د در ملنګ

په وربل مه وهه لاســـونه
پر ما دې بل کړه سره اورونه
جانانه ســـتا به عادت وي
ما به پناه کړې په تور غرونه
**
ســــتــا د مـيـنې لـېـونی يـم
په اور کې ســـوزم ســـپېلنی يم
زر مې پرځـای کړه هوســـونه
په وربل مه وهه لاســـونه
**
د رنځ علاج مې ستا په لاس کې
زړه مې مه پرېږده وســـواس کې
په ديدن ورک مې کړه غمونه
په وربل مه وهه لاســـونه
**
«مل» به ستا د در ملنګ شي
که در جوړه ستا په پالنګ شي
چې مې پـوره شي ارمـانـونـه
په وربل مه وهه لاســـونه

جرمنی ۲۰۰۶-۳-۱۱

# ناز او ادا

د ســـتا په انتظار يمه مســـکا سره راځـه
خولـه ډکـه لـه خنـدا نـاز او ادا سره راځـه
**
کاشکې د غاړې مې امېل کړې چې هلته وزنګېږم
يا ستا د سينې درشل کې په ډېر ميل ونخېـــږم
جـفـا بـس ده جـانـانـه د وفـا سره راځـه
خولـه ډکـه لـه خنـدا نـاز او ادا سره راځـه
**
راځه چې ټپي شـوی مې دی زړه سـتا په بېلتون
لـه واکه مې زړه تللی چې پرتـا شـــوئ مجنون
عــلاج مې د زړه وکـــړه د دوا سره راځـــه
خولـه ډکـه لـه خنـدا نـاز او ادا سره راځـه
**
ريبـار پـه لاس مې تـا تـه پيغـامونـه درلېږلي
راځـه چې ســـتا په لاره کې ګلان مې دي کرلي
پرتا نازېـــــږي «مل» صدق و صفا سره راځه
خولـه ډکـه لـه خنـدا نـاز او اداسره راځـه

جرمنی ۲۰۰۶-۳-۳۱

# څو ښځينه سندرې

ځولۍ ځولۍ غمونه په وربل نه ايږدم
نور ګلونـه لرم ځولۍ ځولۍ غمونـه
جانان په بل وطن ميشـــته شـــو
پـه زړه مې پرېښـــود تور داغونـه
**
نـور د ګـودر غـاړې تـه نـه ځـم
زيـاتي مـنګي تـه بـه لاس نـه وړم
پـرېـږدئ چې وژاړم پـه چـيـغـو
چې د زړه يـخ کـړم سره اورونـه
**
د جګـړه‌مـارو کـور دې وران شي
پـه زړه غمجن خوار او حيران شي
چې جـدايي پـه مـونـږ کې راوړل
پـوره مې نشـــو ارمـانـونـه
**
اور له آســمان پر ما اورېـــــــږي
زړه مې د ياره نه صــبرېــــــــږي
وطـن د ســـتـا وي جګـړه مـاره
ځـمـه د يـار کـړم ديـدنـونـه

جرمنی ۲۰۰۶-۳-۳۱

# لېونۍ به شم

ځي يار مي لـه دي کلي مورې لېونۍ بـه شـــم
په چا ونازېــــــــــــرمه يار نه پردۍ به شـــم
**
مونږ يو د بـل سره مينـه او محبـت کـول
پخپـل نوي ژونـد بـانـدې مصـــلحـت کـول
د يار په ببلتون سره مورې تور لوګۍ به شـــم
ځی یار مې لـه دې کلي مورې لېونۍ بـه شـــم
**
هغه بېله ما نه ژوند څنګه ســـمبال به کړي
خپله مينه زړه په څه باندې خوشحال به کړي
ژاړم پـه دې غم کې مورې خنـدنۍ بـه شـــم
ځی یار مې لـه دې کلي مورې لېونۍ بـه شـــم
**
زه مورې لـه هغې څنې ژونـد کولای نشـــم
مينه د هغې مورې له زړه ايســتلای نشـــم
ځمـه د هغې پســـېنـه چې بېزړګۍ بـه شـــم
ځی یار مې لـه دې کلي مورې لېونۍ بـه شـــم
**
مـورې د هـغـه سره مـيـنـه کې رســـوا يـمـه
هـغـه مې مـجـنـون زه د هـغـه لـيـلي يـمـه
(مل) يواځېنه پرېږدم لـه غمه نرۍ به شـــم
ځی یار مې لـه دې کلي مورې لېونۍ بـه شـــم

جرمنی ۲۰۰۵-۴-۲۶

# خپېړې

مـنـګي سره ځـم لـه چـېـنی اوبـه راوړمـه
ګودر خوا ته چې ځم د خپل یار دیدن کومه
**
ډارېــــــــږم په دي نه چې ورور مې شي خبر
لـه کوره چې وزم شـــاوخوا کــــــړم نظر
پـه شرنـګ د بنګړو خپـل جـانـان خبرومـه
مـنـګی سره ځـم لـه چـیـنې اوبـه راوړمـه
**
پوهیـــږمه زړه مې په یار ډېر خوږېــــــږي
هغه وخت ناوخت زمونږ کور نه تاوېـــږي
اوبه کړم بـــانه د یار خوا ته ورځمــــــه
مـنـګي سره ځـم لـه چـیـنې اوبـه راوړمـه
**
د کلي همزولې پر ما اوس ټولې پوهېــــږي
د مینې لمبــــه مې په زړه کې نه ځاېـــږي
رســـوا شـــوه مینـه اوسـېې نـه پټومـه
منګي سره ځم له چینې اوبــــــه راوړمــــه
**
اوس غــــوارم چې یار سره وکــــــړم ســفر
په کور کې نه کښېنمه له غمه کېــــږم ابتر
د «مل» سره ځم که په مخ خپېړې خورمه
مـنـګي سره ځـم لـه چـېـنی اوبـه راومـه

جرمنی ۲۰۰۰-۸-۱۶

# لوبه

ما وکتل یار ته منګی مې چپه شو
له لاسه مې ووت کمیس مې خیشته شو
**
حیران یم چې مور ته څه وکړم بانه
پر ما مور پوهېـــــــــږي چې لرم یارانه
بانه به کړم دا چې مې ســـترګې کږه شـــو
ما وکتل یار ته منګی مې چپه شو
**
نه غواړم چې زړه کې د یار مینه پټ کړم
ورځم مخامخ نه غواړم چې ځټ کړم
د مینې منه مې ســـینه کې پخه شـــو
ما وکتل یار ته منګی مې چپه شو
**
منګی په اوږه ســـبا ورغلم ګودر ته
آشـــنا مې په مخ را ښـــکاره شـــو نظر ته
په زړه مې د یار عشــق نور هم تازه شـــو
ما وکتل یار ته منګی مې چپه شو
**
مونږ دواړو د مینې نوې لاره کړل جوړ
یوبل ته مو وکتل ســـترګې مو کړل موړ
«مل» ګورا د ګل سره زر ګلدســـته شـــو
ما وکتل یار ته منګي مې چپه شو

جرمنی ۲۰۰۰-۸-۲۰

# د مينې موج

لمر په پرېوتو دی ځان ګودر ته رســومــــه
ســتا پـــــــه انتظار منګی په لپــــو ډکومه

**

ســـترګې په رانجه مې تورې کړی ســـتا دپاره
هر مازديګر راشــــه غلی کښــينه مې په لاره
زه پـه کرشـــمو سره مخ تـا تـه ګرځومـه
ســـتـا پـه انتظـار منګی پـه لپو ډکومـه

**

ګل د کشـــمالي مې پاس په بام کې دي کرلي
راشــــه ديـدن وکړه چې يم بـام تـه راختلې
ځان مې ســـينګار کړې له تا مخ نه پټومه
ســـتـا پـه انتظـار منګی پـه لپو ډکومـه

**

ســتا د مينې موج مې په ګوګل کې په څپو دی
لېرې لـه ما مـه ځـه چې مې زړه پـه ټوپو دی
تـا سره چې وينم پـه زړه ګوړې مـاتومـه
ســتا په انتظار منګی په لپو ډ کومــــــــه

**

لاس د مينې راکړه چې په زړه شمه خوشحال
«ملـه» راتـه ځير شـه ښـه مې وګوره شين خال
ســتا په مينه مســته ډک منګی په اوږو وړمه
ســتا په انتظار منګی په لپو ډکـــومـــــــه

جرمنی ۲۰۰۰-۸-۳۰

# مینه مې بایللې

مینـه مینـه نـه کوم مینـه مې بـایللی دی
مـا چې ورکـتـلي دي یـار مـخ اړولی دی
**
هـــــسې یار پیدا نـــشي ما چې یار لیدلی وه
شـــــاوخوا رڼـا وه ســـپوږمۍ را ختلې وه
ښېلتون د هغې مې په تن اور پورې کړی دی
مینـه مینـه نـه کوم مینـه مې بـایللې دی
**
مینه سکروټې دې زړه پکې سوځېــــږي تل
یار نه چې جدا اوسې غوښې دې ویلېږي تل
مخکې زما زړه په دې اور کې ســوځېدلی دی
مینـه مینـه نـه کوم مینـه مې بـایللې دی
**
حاشـــا کله توبه مې وي مینه نه کړم چا سره
مـا خو مینـه کړې وه هغـه دلربـا سره
پرېښــودم یوازې هغه بیا په ســفر تللې دي
مینـه مینـه نـه کوم مینـه مې بـایللې دي
**
نوم د آشنا نه اخلم نور غم پر ما زیاتېـــږي
کله چې مې یاده شي ســترګې مې ژړېـــــــږي
څما په برخه لیک «مله» تل ژړا لیکلې دي
مینـه مینـه نـه کوم  مینـه مې بـایللي دي

جرمنی ۲۰۰۶-۳-۲۹

# د زړه دوا

تکـه توره مې ده خو نـه مخ شــغلې سره رڼـا کـه
مـخ راواړوه پـه مـیـنـه د زخـمي زړه مې دوا کـه
**
خوب په ســترګو کې مې نشــته اړخ په اړخ دې یادومه
له ستا هېر یم که په یاد یم، تا هېڅ وخت نه هېرومه
پلو لېرې که له مخ دیدنونه لـــــبې وړیـــــا کـــــه
مـخ راواړه پـه مـیـنـه د زخـمي زړه مې دوا کـه
**
زما مینه اوس هم تا تــه هــسې ټوکې غوندې ښکاري
هېڅ بـاور دې نـه راځې چې مې ســـترګې پـه لار دي
ثاري باور وکـــــوه پر ما مینه مــــا سره ریښتیا کــه
مـخ را واړوه پـه مـیـنـه د زخـمي زړه مې دوا کـه
**
له تا زړه مې نه صبرېـــــږي ځان دې ښه آشنا پوه که
لېرې مـه ګرځـه لـه مـا نـه زمـا مینـه یـاره هو کـه
مه اچوه مې لـه نظر خپل، راشــــه «مل» سره وفا
تـه مخ را واړوه پـه مینـه د زخمي زړه مې دوا کـه

جرمنی۲۰۱۳-۱۲-۱

# انتظار

تورو ســــــترګو کې دې نــــــښې د رضـــا وینم
په وار تخنوې مې ستا کتل، زړه مې نه نیسي قرار
ما کتل تا ته له لېرې ډارېدم چې مخ پټ نکړې
د امید ډیوه مې بل شــوه ســتا د ســترګو په ګذار
باور دې وشــه صــنمه چې د ژوند امید مې ته یې
چې پناه مې شي له سترګو ژاړم تا پــــسې بســـیار
راشـــه زما د زړه کوربه شـــه، جدایي دې نه منم
په پالنګ مې شـه جوړه «مل» سـتا باسي انتظار

جرمنی ۲۰۱۳-۱۲-۱۰ ۱۱

## مین کیږي

سږی یو ځل مین کېـــــږي د خپل خوښې په صنم
زړه د هغـه لـه واکـه وځي، هغـه نـه وې نور ګرم
چې ګـذار د تورو ســتړګو د جـانـان پې پرې وشي
نور لـه عقلـه بېګانـه شي نـه هم ګالي د چـا غم
د خپل میني په اباسین کې د آشنا په چُرت کې لامبي
لیکي هر وخــت صفـتــونه د آشــنا پـخــپل قلــم
نه شرمېـــــږي له پېغور، نه د خلک له شورماشور
د آشـــنا دیدن دپاره «مل» مني هر وخت ســـتم

## چیغه

که حــیا له خلکو نه وې درپـــسې ژاړم په چیغو
نه هېرېـــــــږي مې دا ستا سره لاسونه په نیکریزو
وخت ناوخت چې شم یوازې ژاړم تا پــسې بسیار
ســـتا مســـکا مې شي را یاد چې کتل دې په مکیزو
ستا د هجر په مجمر کې ټول صورت مې ایرې شو
نه درېـــــــږي مې سـلګۍ نه په شـپونه په ګهېځو
پوښـــتنـه زمـا وکړه، یـا لـه زړه دې مې بهر کړه
«مل» ترڅو پورې به ګالي ســـتا فراق په غمیزو

جرمنی۲۰۱۳-۱۱-۳۰

## عشرت

که بلبل له ګل تاوېــــــــــــري غریزه د محبت دی
څوک چې زړه پر چا بایلي ددلبر زیب و زینت دی
شرط د مینې د زړه وړي شــکلا او جمال نه دی
چې په زړه کې خوږه کیږی د آشنا خلق او سیرت دی
هر ګذار د تورو ســترګو چې په مهر او الفت وي
زړه د هــغې پـــسې ځي دا د مینې معاشـــرت دی
هغه مینه چې لمبه یې په رګونو کې تاوېـــــــــري
هغه مینه آتـــــشي وي «مل» تلپاتې عشــرت دی

جرمنی۲۰۱۳-۱۲-۱۹

## تسلي شي

زه څــه وکـړم چې دې مـیـنـه پـر مـا راشي
نــاقــرار زړه مې پـه مـهـر دې هـوســـا شي
ســتا په څنګ کې د ژوند مفهوم احســاس کړم
هغـه وخـت چې زمـا پـه مینـه ســتـا رضـــا شي
بې لـه تـا اوســـېدی نشـــم حـال مې ګـوره
پـه بـېـلـتـون کې دي مې ســـترګې پـه ژړا شي
راځـــه دواړه چې د مـــیـــنې تـــړون وکـــړو
چې د «مــل» دا نــاقــرار زړه تســـلا شي

جرمنی۲۰۱۳-۱۲-۱۸

## نرۍ خولې

بیا نرۍ خولې دې په رخســـار له ډېرې حیا راځي
عطر د کوڅېو دې شـــمـال زمـا پـه خوا راځي
ستا په رمنده ستـــــرګو کې نــښې د رضـــا وینم
زه چې درته ګورم ســتا په شــونډو کې مســکا راځي
نـه لرې جوړه پـه خوبرويـانو کې چې مـا ولیـد
هومره مې خوښیـــــږي چې ته نه اوسې ژړا راځي
راشه مې په څنګ کې چې د هجر شپې هېرې کړم
«مل»سره جوړه شـــه چې يې مینه تل په تا راځي

جرمنی ۱۳ ۲۰-۱۲-۱۴

## یاده وه

چې هنداري ته ګورې یو ځل ما هم یاده وه
زه دې هېڅ نه هېرومه ته مې هم مه هېره وه
زه دې تږی د وصال یم ورځ پر ما کال تېرېږي
زمـا پـه خوا راځې مخ لـه مـا مـه ګرځوه
دروغ نه دي ریښتیا دي یاده ومه دې همېش
راشـه څنګ ته مې کښـېنه فاصـله را لنډه وه
د هغې ورځ پـه تمـه چې مې مخې تـه راشې
یار آرمان مې تر سر که په کتو «مل» نازه وه

# د عشق اور

کرشــــمې سره مســـکا لړوي د عشـــق اور
مخامخ د یار کتل له ســـینې ورې زړه په زور
د باڼو غشـــو ګذار چې د چا په زړه کې وشي
د هغه د زړه په تل کې وي د مینې شر او شـــور
چې په مینه د پیۍ مخو د چا زړه شي ګرفتار
پروا نه ســـاتي هغه که وي ســـپین یا که تور
کـه د مینې لمبـه پـه رګو د چـا داخـل شي
په مجمر د سرو لمبو کې د هغـه وي تـل کور
عاشقی آسانه نه ده په اغزو کې وی «مل» لار
ګرېوان څیرې لیونی سرګردان لـور پـه لـور

# نوبهار

شبنم اوري پســـرلي کې مخ پرېمينځي د ګل بوټې
اوبوه څاڅي په چمن کې د ګل پاڼو له هر څوکې
چې د لمر وړانګې خپرې شي پـه ګلانو او ګلبوټو
را ښــکاره شي پـه ګل پاڼو مرغلرې داني غوټې
**
بلبلانو پـه چمن کې نـاز د ګـل پـه لېمو اخلي
غـزل‌بولـو تـوتکېو پـه چـمن شــــاوخوا اوړي
بوراګان راڅرخېـــــــــږي د ګل پاڼو چاپيرېال کې
شره هار له ويالو خپـــــږي زير و بم پکې يو موټې
**
د طبيعت رواداری ده موج د ګل په پســـرلي ده
د ســـنځلو او ګلابو د عطرونو خوشـــبويي ده
د چمن ارته فضــا کې د مرغانو خوږې نغمې دې
لالـه زار دی، نوبهـار دی هره څنـډه هره نوکې
**
د سهار نسيم چلېـــږي په نغمه يې ګل نڅېـــږي
د بلبلو لوی ښـادې ده له ګلبوټو را تاوېــــــږي
د مرغـانو کوکهـار دی د چمن پـه هر لوېشـــته
بلبل خوله له ګلو اخلي رنګين ښکاري مل مښوکې

جرمنی ۲۰۰۶-۲-۴

## آشنا بېگانه شو

پناه مې دی راوړې ســـاقي را کـه پیمانـه
له عقله مې پردی که چې مې هېر شي یارانه
په مخه مې نن راغی مخ يې واړول بل خوا ته
هېڅ ونـه کتـل مـا تـه هـا مغرور او دیوانـه
پخپـل قـول او قـرار وفـا نکړي زړه وړي
په خوله کې راته چپ کړه د خپل مینې ترانه
هېڅ نشـــته نور په مینه کې له دې نه ناکامي
اوس ګاله «مل» غمونه چې آشنا شو بېګانه

جرمنی۲۰۱۴-۱-۴

## قساوت

چې د مخ رڼا دې نه وې سـمه لاره کې غورځېــــږم
چې سپین مخ راځنې پټ کړې په رنځونو اخته کېږم
ستا لمړی کاته له ځانه آشــنا هـــــسې بېخود کړم
چې د تګ په هر قدم کې بې‌اختیار پرمخ لوېـــــږم
تمنـا د پـاکې مینې مې بـدل ســـتـا پـه جفـا شـــوه
لېونی شم ستا په عشق کې په ځُرتونو کې ډوبېــــږم
قســـاوت پـه خوبرویانو کې لـه سره تـل خطـا وي
ستا زړه له کاڼي سخت دی لکه زه چې ښه پوهیــږم
ننوات مې درته وکړ پر«مل» زړه دې رحم نشـــوه
چې سـتا مینه کې شـم پاتې قرار نه لرم ځورېــــــږم

جرمنی-۲۰۰۵-۱۲-۲۴

## ګل شرمېږي

چې د ګلو په بڼ ګرځې ګل شرمېـــــــږي
چې له ما نه په ځنګ ګرځې دل ځورېږي
چې د ښـــکلو په محفل کې راځرګند شي
خوله يې ډکه له خندا غاښ يې ځلېـــږي
چې پرمخ تورې زلفان خپلې خورې کړې
لاره ورک کړم تروږمۍ را پيدا کېـــــږي
چې د زلفو ګېډۍ واړوي خپل شـــاته
د سجدې محراب مې اړته معلومېــــږي
«مل» بېځايه په يار نه دی مين شـــوی
چې مسکا شي غم له زړه مې ورک کېـږي

جرمنی۲۰۰۵-۱۲-۲۶

# تغافل

ژبه مې ګونګۍ شي که ګیله مې درنه کړې وي
سترګې مې شي ړندې که مې بل چا ته کتلي وي
ســـتا تغافل ځنې وخت راځي مې خاطرو ته
زړه شي ناقرار فکر مې وړي تورې تیارې ته
وخورمه خپل سر که مې تا له یاد ایســتلي وي
ژبه مې ګونګۍ شي که ګیله مې درنه کړې وي
**
ولې مخ دې ما نه په دې ورځو ګرځوې یاره
څه مې دي ګناه چې زړه مې اور کې اچوې یاره
خاورې مې ځواني شي که مې ته هېر کړی وي
ژبه مې ګونګۍ شي که ګیله مې درنه کړې وي
**
خیر دی که له نازه دې پرمخ خپېږې خورمه
«مل»باندې ډېر ګرانه له تا مخ نه ګرځومه
زه شـــم ځواني مرګه که بېتا مې خندېدلي وي
ژبه مې ګونګۍ شي که ګېله مې درنه کړي وي

جرمنی – ۱۰-۳۱ ۲۰۰۵

## د بنګو پياله

يـا د مينې لېونی يم يـا پيـالـه د بنـګ مې څکلی
يا د ستا د سترګو غبـــشی پــه ســينه مې لګېدلی
نه پوهيــــبږمه دلبره په غوړو می شــورماشــور دی
يا د ســـتا د بنګړو شرنګ مې په غوړونو اورېدلی
خوب په ســترګو کې مې نشــته ټوله شــپه يمه بېدار
يا د ســـتا د بېلتون شـــپې دي په چرُتونو کې يم تلی
اوښـــکې ځي مې له چشـــمانو لېونی څېرې ګرېوان
ځکه ســـتا د عشـــق په لاره ډېر ربړونه مې ګاللی
هېڅ رانغلې زما خوا تـه ترحم دې په زړه نشـــتـه
ستا د مينې سره لمبه کې د «مل» زړه تل سوځېدلی

# ګل ښانګه

ګـل ښـانـګـه يې  ودريـــــــــــــره شريـنـه
چې  پــــه  سر  دې  وتـــومـــبـــومـــه
**

د ســـنځـل د زيړو ګلو عطر تيز تر يـاســـمين دى
شـــور د بلبلانـو دى پـه ګلونـو بڼ رنګين دى
ځمکه د بڼ ګوره آشـــنا څه ښـــايســـته زرغون دى
دا رنګين ګلان د مليـار محصـــول د کـار دى
ګـل ســـمبـالوى نـه ګـل ښـانـګ دې توره دى
کميس دې پـه ســـپين مخ دې سره لبـان وينم
داسې ښـــايســـته ښـــاپيرۍ په دې ګلســـتان وينم
خداى دې مهربانه که نجلى ښنګه دې خندان وينم
ځـان دې ســـمبـال کړې پـه جبين مـاه‌تـابـان دى
«مـل» بـانـدې ډېـر ګـرانـه  ګـل ښـانـګ دى

جرمنى ۲۰۰۵-۴-۲۷

## د مینې راز

تور زلفان يې چې پرمخ باندې خواره کړه
زما ســترګې د خپل ځان په ننداره کړه
ما په غلا سره له ورایه ورتـــه کتلې
لیلی پوه شـــو خپل کاته يې بېګانه کړه
هغه خنګه کړمه پوه د خپلې مینې
ځه ریباره اوس يې پوه په افســانه کړه
نن ورځم راز د مینې ورته وایم
خیر که یار له ډېره ناز پر «مل» غصه کړه

جرمنی ۶-۲۲- ۲۰۰۵

## خدای ناترسه

ســتا په مینه مې خلک بولي دیوانه
ســوځېدلی یم په اور د بېلتانه
چې مې مخې ته څرګند شي ســتا جمال
له حســـرته شمه سر په میـــخانه
تورې سترګې دي آشنا سحر او جادو کــا
په لیدو يې شـــم له خوده بېګانه
جذبه مې ســتا د مینې ده په زړه کې
تش کتو دي کړم بېبنګه مســتانه
خدای ناترســـه لږ څه رحم پر ما وکړه
چې قرار د «مل» وړي ستا یادونه شبانه

# په نخرو راځي

د بـر کلي لـيـلي ګـودر تـه پـه نـخـرو راځي
مـنـګی پـه اوږه شرنـګ يې د بـنـګـړو راځي
اوږه باندې چې کيـــــږدي منګی مخ يې شي لوڅ
هيلۍ يې د سينې چپ او راسته په شوريدو راځي
ګودر غاړې نه کله چې د کور خوا ته روانه شي
د تـګ پـه هر قـدم کې يې شرنګی د پـاولو راځي
له لېرې چې په غلا سره ځير شـــمـه هغې ته
د مين له جـذبې نـه د «مل» زړه په ټوپو راځي

# د سنځلو عطر

څه ښـــه لوړ قامت لري هغه نجلۍ
مینـه او محبـت لري هغـه نجلۍ
**
ځلادار امېـل غـاړه کې جیـل کړې
د ســنځلو عطر ځان پورې شــیندلی
زلفې را غونـډې کړې پاس په تنـدي
مینـه او محبـت لري هغـه نجلۍ
**
د کمیس تنۍ یې پورته خلاصـــه کړې
ســترګې پـه رانجـه تکـه توره کړې
څنګه مې زړه یونهسۍ هغه ښـاپیرۍ
مینـه او محبـت لري هغـه نجلۍ
**
مخامخ مې وکتل مسـته په مسکا شـو
په اشـارې ورسـید ما ته په خندا شــو
زلـفـو کې ټـومـبلې وه د ګـلـو غـوټۍ
مینـه او محبـت لری هغـه نجلۍ
**
بند شو دواړه لاس مې د مینې په لومه
مـینې د هـغې زمـا د زړه پـه ویـنـه
«مله» مبارک دې شـــه مینه د بدرۍ
مینـه او محبـت لری هغـه نجلۍ

جرمنی ۲۴-۴-۲۰۰۵

# سالگره

ګل لــه ګل بــوټي ټــولــومــه
د ګل ګــېــډۍ تــرې جــوړومــه
ســـبــا د یــار مې ســــالګره ده
د ریبار په لاس ورته لېــــــــږمه
**
مــرور ګــرځي یــار لــه مــا نــه
ســترګې مې سرې شــوې له ژړا نه
د مینې اور مې پــه زړه بــل دی
یــار لــه خپــل حــالــه خبرومــه
**
دوه ویشــتم زیږ دې مبارک شــه
عمر دې اوږد غلیم دې ورک شه
جــانــانــه مــا سره پخلا شـــه
ســـتــا خــاطرې تــل یــادومــه
**
یــاره پــر مــا یې ډېــره ګــرانــه
خدای دې ســـاته تل مهربانه
«مــل» تــه وعــده د دیــدن راکــه
د ګــودر غــاړې تــه درځــمــه

جرمنی ۲۰۰۵-۴-۷

# کجل

یا به دې شــــونډې ښــــکلومه
یـا بـه پـه مخ څپېړې خورومـه
ســــتـا د دیـدن هـوډ مې کـړی
جـانـانـه کـور تـه دې درځـمـه
**
پـه ســــترګو پورې دې کجـل کړ
بـیـا دې زمـا پـرزړه یـرغـل کـړ
مـیـنـه دې زړه تـه مې پـریـوت
نـاز او نـخـرې دې یـادومـه
**
لـه غمـازانو نـه ډارېـــــــــــږم
د ستا په مینه ډېر خوښېـــــــږم
پـرتـا مـین یـمـه جـانـانـه
تـا لـه خـپـل مـیـنې خـبرومـه
**
نشـــــمـه زړه خـپـل صـــبرولی
عشــــق دې زمـا سر تـه ختلی
د «مل» په څنګ کې راشه کښېنه
زه به دې غیــــــــــږ کې زنګومه

جرمنی ۲۰۰۵-۴-۲۰

# د مینې جذبه

ســـتـا د مینې پـه لمبو یم ســـوزېـدلی
ســـتا له غمه شـــپه او ورځ یم کړېدلی
چې د سترګو غبشی ستا مې په سینه شو
ســـینـد د وینو مې لـه زړه را بهېـدلی
بېخبر ســتا د نخرې په لومه بند شــم
اوس لاس ستا له زلفو نشم خلاصولی
چې بند شـــم ســـتـا د زلفو په طناب
څوک مې نـــشي ستا له دره اوس شړلی
دا مې هوډ دی چې په مینه کې دې پایم
«مل» ســـتا د ســـینې خوږ کې لویدلی

جرمنی ۲۰۰۵-۲-۶۰

## لوڅې نخرې

ســـتا د وربځو په لیندو کې زما د مینې انګېزې دي
ستا د سترګو هریو غبـــشی پـــه سینه هسې نیزې دي
تـه زمـا د مـین زړه د چـپـاول مـکـار صـــیـاد یې
سـتا د سرو شـوندو سرونه ډک له ناز او کرشـمې دي
تـه د ښـــکلو ښــــاپېرو د ښـــکلا سرکش امیر یې
ســـتا د تګ په هر قدم کې د مســـتۍ لوڅې نخرې دي
ګـوره مـه مې څـوروه لاس د مـیـنې را تـه را کـه
لوغړن یم ستا له مینې، ستا نامه مې خوږې نغمې دي
کاشـــکې مخکې مې صـــورت ســـتا هېڅ نه وای لیدلي
ارامی دې له (مل) یوړل اوس د زړه د ټپ ناری دي

## د زړه بڼ

د ګـلـــونـــو ګـــبـډۍ تـــا تـــه مې راوړې
د زړه بـــڼ ځـــنې مې تـــا تـــه ګـــبـډۍ کـړې
نـــور د زغـــم کـــنـــډول مې نســـــکـــور شـــــو
نـــنـــوات تـــه دې مې ځـــان رارســــــولې
ســـتا ښـــایســـته صـــورت په زړه مې میشـــته شـــوی
هېڅ قـــدرت مې لـــه تـــــــــا نـــــــــشی بیلولی
مـــرور راځـــنې مـــه ګـــرځـــه دلـــبره
مینـه ســـتـا لـه زړه هـېـڅ نشـــمـه ایســـتلی
ګل مې واخلـه چې غمجن زړه مې خوشـــحـال شي
(مـل) دغـه ګـل غـنـچـه تـا تـه غـوره کـړې

*جرمنی ۲۰۰۴-۱۰-۱۱*

# پېزوان

یاره مخ دې ښکاره که چې چشمان دې وګوروم
خپــه در پــــسې یمه تور زلفــان دې وګوروم
ګدر په غاړه ناســـت ســـتا د راتګ په انتظار
پلـو لـه مخې لېرې کـه پېزوان دې وګـوروم
اوربل یوخوا د منځ شـــین خال دې ښـــکاره که
ټکرۍ یو خوا تـه واړوه سره لبـان دې وګوروم
پســـتې پســـتې خبرې دې د مینې راتـه وکړه
لاس وغزوه مـا تـه سره نوکـان دې وګوروم
د «مـل» د مینې تنـده مـاتوه پـه ډېره مینـه
د ســـترګو په جنګ راشـــه باڼوګان دې وګوروم

جرمنی۲۰۰۴-۸-۱۱

# ښکلې هوسۍ

ولګېد په مخ مې د دلبر تنکي لبان
وینښ شومه له خوبه رانه تللی وه جانان
**
زړه رانه غلا کړې دی د خپل کوڅې صنم
هېڅ نه را ښکاره کیبږی ډوب شوی یم په غم
**
کور یې دې نژدې آواز یې اورم هر ګړي نه وزي
د باندې رمنده لکه هوسۍ ژاړمه هردم ورپسې دا مې دی ګذران
**
ورشه ای ریباره د یار وکوه پوښتنه «مل» نه خبر واخله
درپسې دی ډېر غمجن (مل) د بېلتانه د لاسه ډېر دی پریشان

# د ګلو ګېډۍ

مخې تـه مې راغی آشـــنـا خوځنـده هيلې سره
ســـترګې جـادوګرې ســـيالي کوي هوسۍ سره
**
ونـه کتـل مـا تـه مخ يې بلی خوا تـه واړول
شرنـګ يې د لاســـونو د بنګړيو را تـه واورول
سره ګلان ټومبلي وه ويښـــتو کې د غوټۍ سره
مخې تـه مې راغی اشـــنـا خوځنـده هيلۍ سره
**
ســـتـا د يـارانی نـه بـه لاس وانخلم هېڅکلـه
ســـتـا خواږه يـادونـه يـادومـه زه تـل ترتلـه
بـاســـم بـه د زړه بړاس ژړا او د ســـلګۍ سره
مخې تـه مې راغی آشـــنـا خوځنـده هيلۍ سره
**
صبر دې په خدای شه ښېرې مکوه خپل يار ته
راز د مينې وســـاتـه مـه وايـه هېڅ اغيـار تـه
را به شي آ شـــنا اخر «مل» د ګلو ګېډۍ سره
مخې تـه مې راغی آشـــنـا خوځنـده هيلۍ سره

جرمنی ۲۰۰۴-۴-۸

## د باڼو غبشې

غبــــــشې د باڼـــــو يې پــــه ځيګر مې لګېدلې دي
زمـا قـاصـــــد د مـيـنې يې لـه خـپـل در شړلې دي
ځمـه تصـــور کې چې د يار پـه پالنګ نـاســــت يمـه
شـــونـډې د هـغې  مې پـه غـاښـــونو چيچلې دي
ځـه نـاصــحـه نـه اورم نصـــېحـت زه پـه مينـه کې
مـا د يـار د شـــونـډې خوږه شـــهـد نن څټلي دي
ځـمـه د يـار خـوا تـه نـنـوات ورتـه کـومـه نـن
مـاد يـار پـه مينـه کې «مـل» شرم و ننـګ بـايللي دي

## هيلۍ

کله مې اوښـــکې په چشـــمان کله خندا مې په لبان
کوچېاني پېغلې لېونی کړم صراحي غاړه خوله خندان
د اوښ رسۍ يې ټينګ په لاس د کاروان سر کې خوځېده
لاس په نکريزو سره کړي چارګل يې زير تور يې زلفان
د ګرېوان تڼۍ يې خلاص را خوځېـده جوړه هيلۍ
کـاږه واږه راتـه کـتـلـه لـه ورا مې ولـيـدل جـانـان
په مـالګېن مخ نرۍ لبان زرغون خالونه يې بېشـــمار
په مينه مينه يې کتل اور يې کړ بل مې په ټول ځان
په سر د لارې شـــم مين د مينې خواســـت مې ورنه وکړ
ما (مل) ته وويل په مينه مونږه کوچيان يو تل روان

جرمنی ۴۰-۳-۲۱

# مروره

خــوا تــه مې را نــغــلــه مــروره ده لــه مــا
قــرار يې رانــه وړی يــار بــه کلــه شي پــخــلا
**
پرون يې خپل خورلنډې تــه زما قـــصې کولې
زمونږ د مينې پــټ رازونــه هغې تــه وېيلې
په مينه مې غبږ وکړ بس دی ځان مکړه رســـوا
خــوا تــه مې رانــغــلــه مــروره ده لــه مــا
**
ښـايسـته پېغلې په مينه کې تل وي نازک خيالې
کې نــه پــه زړه کې نــه لری زمـا بـدری جمـالې
ريباره زمـا لـه حـالـه يار تـه ووايـه ريښـــتيـا
خــوا تــه مې رانــغــلــه مــروره ده لــه مــا
**
توبه مې دی نور يار ته نه کوم نصـــيحتونه
پر مـا بـانـدې کـه راشي نـاخوالې او غمونـه
پــه مــيــنــه ورتــه ګــورم نــازولې ده پــر مــا
خــوا تــه مې رانــغــلــه مــروره ده لــه مــا
**
سر پورتـه لـه زنګون کـه يار تـه ګوره مخـامخ
رڼا هر خوا خوره ده ســـپوږمۍ راغلـه پـه مخ
«مل» زيری مې درباندې آشنا راغی ستا تر خوا
خــوا تــه مې رانــغــلــه مــروره ده لــه مــا

۲۰۰۴-۳-۲۴ جرمنی

## عبهر

ځمه له دې ځایه ځان دلبر ته رســـومه
ټول ماحول تیاره دی ځان قمر ته رســـومه
**
زه لکه بلبل د هر ګل په څنګ کې نه کښــینم
یا لکه پتنګ د هر څراغ لمن ته ولوېـــــږم
یو ګل مې خوښ کړی ځان عبهر ته رســـومه
ټول ماحول تیاره دی ځان قمر ته رســـومه
**
نه وزې له یاده مې د غره لمن ښــایســـته ګل
یا د کلي پېغلې چې ګلونه پخپل سر ټومبل
ځمه تصـــور کې ځـان ګـدر تـه رســـومـه
ټول ماحول تیاره دی ځان قمر ته رســـومه
**
دلته مې طاقت نه کیږی شپه او ورځ شمیرمه
ســترګې مې شــوې سرې په زړا اوښــکې تویومه
نه صبرېـــــږي زړه مې ځان اختر ته رسومه
ټول ماحول تیاره دی ځان قمر ته رســـومه
**
(مله) یادومـه د آشـــنا خواره واره زلفـان
تورې نرۍ وروځې ښـــکلی مخ او تـازه لبـان
ځمه د یار خوا تـه ځـان نظر تـه رســـومـه
ټول ماحول تیاره دی ځان قمر ته رســـومه

جرمنی ۲۰۰۰-۳-۲۵

# سپېلنی

راشـــه چې ســـکروټې د ببلتون مې ککرۍ ســـوزي
ستا له جدایې نه ټول صورت مې هر ګړۍ سوزي
**
تـا ویـل څو ژونـدې یم لـه تـا مخ نـه ګرځومـه
هر چېرې چې لاړ شې ځان به تا تـــــه رســـومه
خوا ته مې رانغلی بې له تا مې اوس مرۍ ســـوزي
ستا له جدایې نه ټول صورت مې هر ګړۍ سوزي
**
ســـتا د مینې ګل مې په ســـینه کې غوړیدلی دی
تا نه چې اوس لېرې یم صـورت مې ســوزېدلی دی
ســـتا د ښـــکلې مخ په یاد زړه مې ګړندی ســـوزي
ستا له جدایې نه ټول صورت مې هر ګړۍ سوزي
**
ســـتـا لـه کلی نـه یمـه وتلی پخپـل خوښـــه
ځمکـه سره لمبه شـــو پر مـا تـا تـه دی جوتـه
زه یوازې نه یم هر عاشـــق په دې نړۍ ســـوزي
ستا له جدایې نه ټول صورت مې هره ګړۍ سوزي
**
لاره رانــه ورکــه ګــردابــونــو کې لــوېـدلی یـم
راشـــه لاس مې نیســـه بې له تا ډېر ځورېدلی یم
(مل) اوس په غربت کې لکه وچ ســـپېلنی ســـوزي
ستا له جدایې نه ټول صورت مې هر ګړۍ سوزي

۲۲-۸-۲۰۰۰

## ګدر

بــر ګــدر تــه نــه راځې لــيــلا
ســـترګې مې شـــو سرې لــه ژړا
**
هر مـازديګر ځم د ګـدر خوا تـه
ســـترګې ګرځومـه هرې خوا تـه
هر ګړۍ ډوبېــــــــــږم په ســودا
بــر ګــدر تــه نــه راځې لــيــلا
**
څو پورې له غمه په سودا ګرځم
يا د يار له هجره په صحرا ګرځم
هېڅوک را ته نه وايي ريښـــتيا
بــر ګــدر تــه نــه راځې لــيــلا
**
نن مې ليلا وليده په بام وختـه
ســـپوږمۍ غونـدې مـاښـــام
توره شـــپه په (مل) شـــو ســـبا
بــرګــدر تــه نــه راځې لــيــلا

## د مینې توپان

مینه کې چې ســـوز او فغان نه وي نه ده مینه
وینه کې چې جوش او جولان نه وي نه ده وینه
**

ونه یې نرۍ لښـــته ښـــکاري په خوبانو کې
چپ او راست په سر ګلان ټومبلي وه وېښتانو کې
خونه کې چې ماه‌تابان نه وي نه ده خو نه
مینه کې چې ســـوز او فغان نه وي نه ده مینه
**

ګل په اغزو ډک نســـیم بلبل ته په نڅا راوړي
دلته په غربت کې ســـتا بېلتون ماته ژړا راوړي
ســـینه کې چې د مینې طوپان نه وي نه ده ســـینه
مینه کې چې ســـوز او فغان نه وي نه ده مینه
**

ومې لید په خوب کې چې د لبر مې ځي چینې خوا ته
شین منګی په لاس تورې زلفان یې وه خواره شا ته
چینه کې چې دیدار د جانان نه وي نه ده چینه
مینه کې چې ســـوز او فغان نه وېنه ده مینه

جرمنی ۲۰۰۴-۳-۱۷

## د بنګړو شرنګ

مـه مې تخنـوه لـه لېرې را مې شـــه پـه ښنګ
غورځېږم ته مې راشه خوره وره د بنګړو شرنګ
**
لېرې کـه پلو لـه مخې مـا تـه پـه خنـدا شـــه
ای طبیبـه خـدای دپاره رنځ تـه مې دوا شـــه
ســـتا په جدایی کې شــم غریب سرتور ملنګ
مـه مې تخنـوه لـه لېرې را مې شـــه پـه ښنګ
**
ســـتا د کرشـــمو په لوی دریاب کې یم لاهو
زر شـــه لاس مې واخله ټینګ مې ونیســـه بازو
کله هغه وخت وي چې جوړه شـــو په پالنګ
مـه مې تخنـوه لـه لېرې را مې شـــه پـه ښنګ
**
ســـتا پـه تورو زلفو بانـدې لاس مې دی تړلی
نه ډارېـــــــږم چا نه ډار له زړه نه مې ایســـتلی
تــه بلـه ډیوه یې زه هم یم بســـمـل پتنـګ
مـه مې تخنـوه لـه لېرې را مې شـــه پـه ښنګ
**
راشـــه چې د وصـــل سره ورکړو ګرم لاســـونه
وســـپېړو یوبـل تـه د خوږی مینې رازونـه
(مل) نور روږه نه یم د جانان د ســـترګو جنګ
مـه مې تخنـوه لـه لېرې را مې شـــه پـه ښنګ

جرمنی ۱۳۰۳۰۲۰۰۴

# کليواله نجلۍ

او کـلـيـوالـه نـجـلۍ پـربـام ولاړه نـجـلۍ
پـرتـا مـين يـمـه زه بـدرۍ جـمـالـه نـجـلۍ
**
زرشـــه ګدر ته راشـــه ســيل او چکر ته راشـــه
پـه لار کې نـاســـت يم درتـه لـه مـا بېزاره نجلۍ
**
پلو پـه څنـګ واړه وه د بنګړو شرنـګ واوره وه
يـم د ديـدن پـه طـمـعـه ګـل د انـاره نـجـلۍ
**
لړ په مســکا شــه راتـه د رنځ دوا شـــه راتـه
پـه زړه زخـمی يـمـه زه شريـن ګـفـتـاره نـجـلۍ
**
زړه نـاقرار دې د «مـل» د عشـــق ګفتـار دې
د «مل» ګله بسيار دی د «مل» جدا له ياره نجلۍ

جرمنی ۲۰۰۰-۷-۸

# خوب

خوب وینم که ویښ یم خوږ آشـــنا مې زنګوي
پروت د یار په غیــــــږ یم ټول بدن مې تخنوي
**
هر ځوک اوس پوهېــــــــږي چې مین یمه په تا
ستا د عشـق په اورکې تل سـوځېــــــږمه تنها
خیر دی کـه لـه نـازه مخ لـه مـا نـه ګرځوي
خوب وینم که ویښ یم خوږ آشـــنا مې زنګوي
**
ناســـت یمه د خلکو سره مخ مې د تا خوا تـه
غوښې مې شـــو وېلی یاره مه ګوره شـــاخوا ته
څو پورې شـــین خال دې آشـــنا ما نه پټوي
خوب وینم که ویښ یم خوږ آشـــنا مې زنګوي
**
څه مې وه ګناه چې زړه دې واخیســـته له ما نه
تل په صورت روغ وم لېونی دې جوړ کړ له ما نه
اوس چې لـېونی شـــم یـار پـه کـاڼو مې وهي
خوب وینم که ویښ یم خوږ آشـــنا مې زنګوي
**
بس دی زړه مې نور د بېلتون په اور کې مه سوځه
کښـــېنه مې په څنګ کې رقیبانو سره مه ګرځه
لاس دې را کـه «مـل» تـه نور یې ولې ځوروی
خوب وینم که ویښ یم خوږ آشـــنا مې زنګوي

جرمنی ۲۴/۲۰۰۰-۶-۲۵

# مست

ستا په مینه مست یم که څپېږې په مخ خورمه
راز د مینې ســـاتم تر هغـه پورې چې یمـه
غېــشی ستا د تورو سترګو ښخ مې شو په زړه کې
ســـترګې رانـه مـه اړوه صـــیاده چې زه مرمـه
ستا ماحول محدود دې لاس مې نه رسېږي تا ته
مخ زر را ښکاره کړه چې لېونی درپـــسې شــومه
ســـتا په مینه خوښ یم مرور راځنې مه ګرځه
زړه کې مې ســـتا ځای دي چا ته ځاینه ورکومه
تـار د محبـت راسره ټینـګ ســـاتـه تر تلـه
ســـتا محبت زه هم پر هر چانه بد لومه زړه
د «مـل» پـه زړه کیـــــــــږده چې ځوان شي
له سره عطر د وصـــلت دې په تکرار و بویمه

جرمنی ۲۰۰۰-۶-۱۵

# تنده

بخت او طا لع نه لرم تل پريشـــان يم
جـدا لـه تـا نـه ګرځم پـه زړه لرزان يم
**
مـا تـه دې وکـتـل پـه ډېـره مـيـنـه
پېټی د غم دې بار کړل پر ما شـــېرينه
اوس رانه لېرې مه ځه چې هراســـان يم
بخت او طالع نه لرم تل پريشـــان يم
**
څنګ کې مې کښېنه ياره په صداقت سره
ځير شـــه لږ ما ته يوځل په نزاکت سره
له ډېره وختـه ځنې ســـتا پـه ارمان يم
بخت او طالع نه لرم تل پريشـــان يم
**
تنده مې نه ماتېـــــــږي ســتا له ديدنه
را نژدې کيـــــــــږه ما ته ګل د ګلشـــنه
تصـــور پـه تـاـل کې شـــکر دهـان يم
بخت او طالع نه لرم تل پريشـــان يم
**
نـه وينم مخ دې يـاره مياشـــتې کلونـه
ببلتون دې راوړل مـا تـه ډېر غمونـه
په زړه مې اوربلېـــږي «مل» په ګريان يم
بخت او طالع نه لرم تل پريشـــان يم

*جرمنی ۲۰۰۰.۶.۱۶*

# فیصله

دلته په غربت کې مې یادېـــــــږي ســتا نازونه
نشـــم هېره ولی ســـتا د مخ شـــینکي خالونه
**
لېږې درنـه یم مګر خوبونـه د وصـــال وینم
هرې خـوا خوره رڼـا ســـتـا د جمـال وینم
هر ګړۍ زنګېـــــږم ســـتـا د زلفو پـه تـالونو
دلته په غربت کې مې یادېـــــــږي ســتا نازونه
**
ما تـه د غربي نجونو نازونه بېمزې ښـــکاري
یاره ستا ښایست راته دنیا کې بېجوړه ښکاري
کلـه بـویـولی شـــم د هـر بڼ سره ګلـونـه
دلته په غربت کې مې یادېـــــــږي ســتا نازونه
**
زړه کې کمي مه راوړه لـه یاده مې هېڅ نـه وزې
ستا په جدایي کې تل سوځېـــږم ته مې نه وینې
ســـوزی ســـتا بېلتون کې هره ګړۍ مې اندامونه
دلته په غربت کې مې یادېـــــــږي ســتا نازونه
**
دا مې فیصله ده چې په غیـر کې دې ځان اچوم
دا د غربت شـــپې ســـتا د وصـــال په رڼا اړوم
«مل» په سترګو ښکل که د آشنا دواړه لاسونه
دلته په غربت کې مې یادېـــــــږي ســتا نازونه

جرمنی ۲۴/۲/۲۰۰۰

## دیدار

یار نه چې ببل شـــوی یم په زړه یم ناقرار
اوښکې مې بهېــــــږي چې را یاد کړم مخ د یار
ســـوزی مې صـــورت تل په اور د جداېي کې
زه لـه دې ژونـدون نـه بې لـه یـاره یم بېزار
زړه مې بې له یاره په ســـینه کې په ټوپونو دی
خدایه را نصیب کړې د طبیب آشنا رخسار
مـا پـه دې نړۍ د خوښۍ لمحې ونـه لیـدې
ورځ په ژړا تېره شـــوه هره شـــپه یمه ببدار
زه به د ببلتون په سرو سکروټو ترڅو سوځم
«مل» تر هغه وخته چې د یار وکړم دیدار

جرمنی ۲۰۰۰-۶-۱۳

# ساقي

ډکــوه ســـــاقي جــامــونــه د شراب
شرنـګـوه مـطـرب تـارونـه د ربـاب
پـه انګـار د بېلتون ســـوځي مې ځګر
زر مې واچوئ د وصـــــل پـه دريـاب
په نيستۍ کې غمشــــريک نه لرم څوک
خوږ آشـــنا مې پټوي مخ پـه حجـاب
چې زمـان پـه بېخودی سره تېر نکړم
بېدارۍ کې ويلی کېــــــــــږم هم کباب
تصـــور کې چې د يار مخ مې په ياد شي
لاهو کېـــــږم د فکرونو پـــــــه ګرداب
«مل» تر څو به په شرابو غم کړې هېر
څو د يار د زلفـــــــــو وانخلم طناب

جرمنی۲۰۰۰-۲-۲۲

## ناکامه مینه

ولې ونـــه ژاړم هغـــــــسې دلـــبر تـــه
چې ښـــــایسـت یې ډېره ورته دی قمر ته
لوړه ونه نرۍ وروځې سـپین غــــاښـونه
په یـــوه مسکا مجنـــون راځنې جوړ کړ
خوب مې نشته نه راځي مې سوړ بستر ته
لا د هغې په دیدن موړ شـــوی نه وم
اورم یار مې ځان جوړ کړی دی ســـفر ته
مستقبل دې «مل» د مینې لېونتوب دی
ځکه مینه دې و نه رســید ثـــــمر ته

*جرمنی ۲۰۰۵-۷-۷*

## د کلونو مروره

د کـــلــــونـــــو مـــــــروره
پخوانی خــــــــــواره دلبره
راشـــه دواړه چې پخلا شـــو
ای زمـــا د زړګي سره
**
هغه وخت مې را په یاد شــو
چې یوبل سره آشــنـــــا شــو
د ګـدر پرغـاړه نـاســـــت وو
ستا په شونډو کې مسکا شو
راځــــــه بیا مینه تازه کړو
یو د بل سره شــو ملـــــــــه
بیا له سره ښـونډی سرې که
ځیر شه ما ته ګرم نخرې که
ډېر رنـــــځونه مې ګالـــــلي
زر شـــــه غیږ مې بیا تود که
د بېلتون نـاخوالی هېر کـه
چې زه خوښ تـه بختوره
**
ګیلې مـه کوه لـه مـا نـه
مـلامـت زه یـم جـانـانـه
ســتا له ځنګه چېرې نه ځم
دا مې هـوډ دی دلـبرجـانـه
زمـا زړه تـه را نژدې شـــه
«مـل» راغلی ســـتا تر دره

جرمنی۵-۲۰۰ -۵-۲۴

# زغم

تـل د رقـيـبـانـو سره کښـــتـه پـورتـه ځي
ولې پــه زخــمــونــو کې مې مــالــګې دوړوي
تـه وې چې د مينې اشـــاره دې کړې ما تـه
ولې اوس دلــبره زمــا خــواتــه نــه راځي
تير بــه شي پر مــا د بېلتون دا ترخې ورځې
څــه مې دی ګـنـاه چې تــل زړه مې ربړوې
زه خــو ســــتــا د مــيــنې تــږی وږی وم
دلبره د بېلتون په اور کې زړه مې ولې سوځوې
«مل» خو ستا نادودی آشنا نـــــشي زغملی
لېرې «مـل» نــه ګرځــه ولې نور مې ژړوې

# خوبونه

اوښــــکې مې ځي لکـه رودونـه
ســـوزم بېلتون کې دې شـــېرينه
کله به مخ راتـه ښـــکاره کړې
چې مې د زړه جوړ شي زخمونه

**

د ګدر غاړه مې يادېـــــــــږي
ستا کرشمې مې نه هېرېـــــږي
زړه مې کوربه دی ســـتا د مينې
وهم د مينې تـــــــل چُرتـــونه

**

لـه تـا نـه نـه يم روی ګردانـه
زمـا د مينې خـوږه جـانـانـه
خـدای مو بيا سره جوړه کړي
«مل» دې تل ويني په خوبونه

جرمنی ۲۰۰۵-۴-۲۳

## مینه

مینـه د مین د احســـــاس څرګنـدول دي
د مینـو زړونـو د ضربـان را ګـرڼـدېـدل دي
ســـترګې د لیلي چې د مجنون په ســـترګو ولګي
دا انعکـاسی تحـریـک د دواړو تخنـول دي
ناز او کرشمې د لیلي مجنون ته احساس راولي
پـه همغـاړی توب سره د مینې ټینګول دي
لـه حیـا لیلي تمـایـل نـه ښـــي مجنون تـه
هڅې د مجـنـون تـل د لـیلي راجـلـبول دي
زړونه چې پیوند شي «مل» مینه لا توده شي
مینه د عاشـــقو خپل هدف ته رســـیدل دي

جرمنی۲۰۰۵-۴-۲۹

## د زلفو جال

نـه مې وه لیـدلې د لیلي نـاز او نخرې
بند شـــو دواړه لاس مې د زلفانو په حلقې
**
نه پوهېـــږم څنګه به مې ژوند شي برقرار
نشته مې په زړه باندې پوره واک او اختیار
کـانـدمـه د لېرې اوس د هغې تمـاشې
نـه مې وه لیـدلې د لیلي نـاز او نخرې
**
ولې زمـا زړه لـه واکـه ووتـل یـودم
مـا خو نـه غوښـــتل د مینې درد او غم
جـوړ شـــو لېونی راځنې وایمـه پرتې
نـه مې وه لیـدلې د لیلي نـاز او نخرې
**
چا تا ته ویلي وه چې تېر شـــه په دې لاره
مـخکې غـوړولې وه لـیلي د زلـفـو جـال
ولې پـه دې لاره بـانـدې «ملـه» تېریـدې
نـه مې وه لیـدلې د لیلي نـاز او نخرې

جرمنی۲۰۰۵-۵-۶

# کوچۍ پېغله

پېغله د کوچيانو په ســـر ابــښي وه ګلـــونه
تورې تورې ســـترګې په نکريزو سره لاســـونه
**
زمونږ د کلي شــا ته درولې وه کيـــــــــږدۍ
ومې ليـدلـه ورايـه خلاصـــه کړې وه تنۍ
ځبـل يې وه پـه غـاړه د لـونګو امېلونـه
تورې تورې ســـترګې په نکريزو سره لاســـونه
**
لېږې يې پلو کړ له مخ شـــاوخوا رڼا شـــوه
ولګېد نظر يې پر ما مســـته په خندا شـــوه
زړه يې رانـه يـووړ پـه ادا او پـه نـازونـه
تورې تورې ســـترګې په نکريزو سره لاســـونه
**
ومې ليد په خوب چې هغه راغله زما خوا ته
مخ يې را نږدې کړ سپينه خوله يې راکړه ما ته
سهار له خوبه ويښ شم دوی تړلي وو بارونه
تورې تورې ســـترګې په نکريزو سره لاســـونه
**
څه چې پر ما راشي له هغې  تېرېدای نشـــم
مينه د هغې  اوس له خپل زړه ايستلای نشم
«مل» ورپــــسې لاړ شــه ووهه ډېر مزلونه
تورې تورې ســـترګې په نکريزو سره لاســـونه

جرمنی ۲۰۰۲-۷-۱۶

## زلمی وم

هغه وخت دې یادېـــــږي چې ته پېغله زه زلمی وم
ســـتـا د مینې پـه انکـار کې لکـه وچ ســـپېلنی وم
**
پـه رګـونـو مـو د مـیـنې سرې لـمـبې راګـرځـېـدل
چې په شـــونډو دې مې لاس وړل تا له نازه خندل
پـه دیـدن نـه مړیـدم ســـتـا د میـنې لېـونی وم
ســـتـا د مینې پـه انکـار کې لکـه وچ ســـپېلنی وم
**
تـا چې مـا تـه ځیر کتلې مـا خپـل لاس در غزول
ســـتـا پـه مینـه ډوبېـدم چې وربـل دې ښـــورول
ما چې ته نه وه لیدلې ســـتا په مینه کې پردی وم
ســـتـا د مینې پـه انکـار کې لکـه وچ ســـپېلنی وم
**
چې مـا لاس د ســـتـا نیول ټول بـدن دې رېږدېـدل
څنګ په څنګ چې کېښیناستو سر او تن مو ګرمېدل
په شرم نه پوهېده «مل»ســـتا په مینه ژوندی وم
ســـتـا د مینې پـه انکـار کې لکـه وچ ســـپېلنی وم

جرمنی ۲۰۰۶-۴-۲۰

# د خیال ټال

د خیال په ټال زنګیــــــږم
د ســـینې په خوږ لوبـــــږم
چې د یـار امېـل د غـاړې
هــــسې نرم نرم لګیـــــږم
**
اور د مــیـنې مې رګــو کې
زړه د ذوقــه پــه ټـوپـو کې
ښکولم د یار سرې شونډې
هوســونو کې لوبېــــــــږم
**
دواړه ناست وو خلوتګاه کې
یو د بـل پـه تمـاشـــا کې
خنګ په خنګ سره ناست
په دې چُرت کې غورزېــدم
**
چې له خیال ځنې آزاد شــم
آشـــنا نه وه نامراد شـــم
مین زړه په واک کې نـه وه
(مله) زه یم چې کړېــــــــږم

جرمنی ۲۰۰۶-۹-۴

# اقرار

ځم مخې تـه ځـم زړه نـاقـرار لـرم
نـه کښــېنمـه دلتـه ډېر تلوار لرم
نن مـازديګر ځي د ګـدر غـاړې تــه
مــا سره وعــده کــړې ديــدار لــرم
مخې تـه مې راغلـه ورتـه ځير شـــمـه
ځـېره ګـلابي ښــــکـلې نـګـار لــري
ځوک مې ستا له مينې ګرځــوی نــشي
زه درتــه د زړه دغــه اقــرار لــرم
د ســـتا خواږه مينه مې په زړه کې ده
«مل» چې ځو ژوندې يم دا اصرار لرم

جرمنی۲۰۰۶-۴-۶

## د اور مجمر

زه پوهيــــږم چې د مينې سـفر اوږده دی
نه صبرېـــږي زما زړه په عشق اخته دی
عشـــق څـه دی ارادت د تللي زړه دی
د آشـــنا په تـار د زلفو کې بســـته دی
نصـــيحت هېڅ پکار نه دې تللي زړه ته
د آشـنا مينه مې زړه کې اوس ميشـته دی
زه د ســـتا خبرې واروم کـه د زړه خپـل
زړه مې وايي چې د يـار مينـه خوږه دی
«مل» د اور په مجمر ايښی دې خپل زړه
زړه د اور په ســـوځېدو کې اموخته دی

جرمنی ۲۰۰۶-۹-۱۴

# د توبو توبو سره

پـر اغـزنـو لارو تـګ د مـین لار وي
د آشـــنـا د تورو ســـترګو خریـدار وي
په سینه کې د بـــانـــو غېـــشی خـــوړلی
سر بـداال څېرې ګرېوان زړه نـاقرار وي
نـه د ځـان نـه د جهـان ځنې خبر وي
غـمـځـپـلی وږی تـږی د دیـدار وي
که خپل یار سره ناڅاپه مخامخ شي
ژبه ګونګ په مخامخ د خپل دلدار وي
«ملـه» ګوره دغـه لار ده ډېر پېچلې
د توبو توبو سره مینه هم د خپل یار وي

جرمنی ۲۰۰۶-۹-۱۳

# پایزېبونه

نه هېرېـــږي د ځواني مې هغه تېر خواره وختونه
چې د مينې سرې سـکروټې ګرځېدل مې په رګونه
چې کوڅــه کې کلــه کلــه يــار راتللــه مخــامخ
ځير کتی مې ورتـه نشـــو ريږدېدل مې اندامونـه
پوهېــده يــار پر مــا چې مې زړه ورتــه بــايللی
مخـامخ چې مـا کتـل پـه وربـل وهـل لاســـونـه
د ګدر پر غاړه ناســـت وم د آشـــنا په انتظار
هغه تيره شـــو زما له مخې شرنګېدله پايزېبونه
عمر تيرشـو، ځواني لاړه مسـافر د بل وطن شـم
وبه نه ګورې نور «مله» د دلبر سپين مړوندونه

جرمنی ۲۰۰۶-۹-۱۸

# د جنت حورې

په شــګلن ســـاحـل مې ولیـده غزیـدلې نجلۍ
ســتونی ســتغ وه لوېدلې ښــکارېده یې دوه هیلۍ
ســپین پنډې یې یو په بله ســـولوله لاندېباندې
طلایې ویښــتان یې خپاره وو په اوږو د هغه بدرۍ
تنـاســــب او تنـاظر یې د بـدن ټول برابر وه
مرتب صــدف غاښــونه سرې شــونډې غرڅنۍ
اور یې بل کړ زما په زړه د تقوا جام مې مات شـــو
پـه دریـاب د مینې ګـډ کړم هغـه لوڅې لېونۍ
حوره مې ولیده پخپل ســترګو ملا نه وایمه دروغ
د جنـت حورې ســتـا وي مـا مونـدلې ګلالۍ
«مل» نژدې شـــم ګلالۍ ته د خولګۍ تمه مې وکړ
خوله یې راکړه له سرو شونډو هغه مستې ښاپېرۍ

جرمنی۲۰۰۶-۶-۱۴

# شینکي خالونه

خاوري خاورې شــو د زړه مې هوســـونه
بیا به نه وینم د یار ســـپین مړوندونه
د بېلتون د لاســـه غوښې مې شـــو ویلې
پـوره نشـــو هـا د زړه مې ارمـانـونـه
نور بـه نـه وینم آشـــنـا بیـا پـه ګـدر کې
نـه بـه بیـا ووینم د یـار سره لاســـونـه
نـه بـه بیـا لاره د ګـدر کې ورتـه کښېنم
نـه بـه بـیـا واورم د بـنـګړو شرنـګـونـه
نـه بـه بیـا آشـــنـا ګـدر کې راتـه ځیر شي
نـه بـه وویـنـم د یـار سره انـنـګـونـه
لـېـونی شـــم د آ شـــنـا پـه جـدایي کې
لـه خـولې وځي دم پـه دم مې فـریـادونـه
نـور د یـار بـېـلـتـون زه نشـــم زغـمـلی
ځم د یـار پـه لور نور نـه وهم څُرتونـه
د رقیب په لمســـون یار له ما نه بېل شـــو
د رقـیـب سر پـه غـټ تـیـګې مـاتـومـه
بـیـا ګـدر کې کـړم د یـار خـپـل نـنـداره
چې بیـا وګـورم د یـار شـــینکي خـالـونـه
دا مې هوډ دی چې هغې سره اوسـېـــــــړم
چې شم خلاص «مل» د هر چا له پېغورونه

جرمنی ۲۰۰۶-۷-۲

# خلوتګاه

توري ســـترګې، نرۍ وروځې د دلبر ســـپين مړونـدنـه
په درياب د مينې ګډ کړم ريـــــــــــږديده مې اندامونه
زړه د واکــه وه وتــلی د دلــبر سره وه تــلــلی
پردی ومـه لـه عقلـه شـــميرل مې شـــنـه خـالونـه
تصـــور کـه بـه تـلـمـه د دلـبر پـه خـلـوتـګـاه کې
چې د يـار سرې شـــونـډې مې چيچلې پـه غـاښـــونـه
څنګ په څنګ سره ګډ ناست وو د خوښۍ ډيوه مو بله
يـو د بلـه جـارېـدلـو ايســـتـل مـو د زړه ارمـانـونـه
چې له خيال ځنې فارغ شـم آشـنا نه وه مې په څنګ کې
په ســـينه کې مې زړه نـه وه «مل» ليدلي وو خوبونه

جرمنی ۲۰۰۶-۸-۳

# لوڅې نخرې

ولې وژنې مې په ډېرو کرشـــمو
لېونی دې کړم په لوڅ لوڅو نخرو
زه د ســـترګو په رمزو نه يم بلـد
چې تـا مـا تـه اشـــا ری کړ د بڼو
يو نـاڅـاپـه مې زړه په ټوپو راغی
مـا چې وليـد دا ســـتا تورې د لېمو
مينه هسې رفلکـــسی مفـــاهمه ده
چې مـيـنـو سره رسي په رمـزو
ســـتا کاته راته د مينې الهـام وه
ځکـه زړه دې رانـه يوووړ پـه کتـو
څو ژوندې يم وابه نه اوړمه له تا
«مل» به ساتی ستا خيالونه په نغمو

جرمنی ۲۰۰۶-۳-۶

# نه کوم یاری

لېرې مې لـه مخې شـــه نور نـه کوم یـاري
مینـه پـه رضـــا ده آشـــنا نـه کوم زاري
تـا د مینې لومـه زمـا پـه مخ وغـوړولـه
دوکه دې راته راکړه په مســـکا او غوړمالي
بیـا زړه دې رانـه یوړه پـه بربنډو کرشـــمو
اوس مخ راځنې اړوې پـه چـل او ټګمـاري
نور نوم به دې وانخلم توبه مې ستا له مینې
ترخو پورې بـه ګالم ســـتـا د زړه بېپروایې
«مل» مینه د مینو په مینه او رغبت وي
آشـــنا پرتا ونکړ د خپل عشـــوق رواداري

جرمنی ۲۰۰۶-۱۲-۱۸

# زړه نازړه

یار زما په راز د مینې نه پوهیـــــــــږي
نادان زړه مې تل هغه پــسې ځورېــــږي
کـه پـه لاره د ګـدر ورتـه درېـــــــــږم
چې نظر يې شي پر ما ډېر په قهرېــــږي
که ځان ورک کړم له نظرېـ يو څو ورځې
د ریبار په لاس تروې ترخې رالېــــــږي
زړه‌نازړه یار مې په مینه کې لوبېـــــږي
هم له ما نه مینه غواړي هم شرمېـــږي
رانـه لار د عـاشـــقی ده ورکـه شـــوې
په خيالونوکې «مل» هر ګړی ډوبېـــږي

جرمنی۲۰۰۷-۲-۷

# کابلۍ پېغله

د یـار ونـه نرۍ لښــتـه د ســـنبـل ده
نرۍ شـــونـډې يې نـازک لکـه د ګل ده
نرۍ وروځې شينکی خال په مېنځ د دواړو
توري کرې دواړه ســترګې پـه کجـل ده
هرقدم کــی معطر وږمې ترې خــپـــرږي
ځړولی يې پـه وربـل ګل د ســنځـل ده
ګلابي څــيره يې هـــــسې جلـــوه کاندې
چې غمبوره يې لکـه پاڼـه د مرســـل ده
چې په ناز سره مســکا شي بيا په شــونډو
زه «مـل» وايم چې دا پېغلـه د کابـل ده

جرمنی ۲۰۰۷-۲-۱

## نه ښکاري

ډېره موده کيـــــــږی ليلي نه وځي له کور
نه ښکاري نظر ته مې چې ګرځم لور په لور
هر مـازديګری راتلـه ګودر تـه پـه نخرو
مينـه مو کولـه سره زړونو کې وو شـــور
څه پېښــه راشــوې چې ليلي خپله نه وينم
سـوځي مې ځګر د بېلتانه په تک سـور اور
ځـه ريبـاره حـال نـه مې خبر کړه دلربـا
اوښکې مې بهيـــــږي رڼا ورځ دې پر ما تور
ووايـه لـيلي تـه چې زړه مې نـاقـرار دی
«مل» نـــشي منـــلی د ناکس رقيب پېغور

## نیامه

دواړه وروڅې لـه نیـامـه یـار ایســـتلی
د وژلـو بـیـا زمـا بـنـد و بســــت کـړی
تور بـاڼو یې زمـا خوا تـه ســیخـه کړي
وار پـه وار زمـا پـه زړه بـانـدې ویشـــتلی
پرهارونه مې ســینه کې نه ځاېـــــــــږي
هغـه وخـت چې جـانـان لوښ مـا تـه کتلي
رحم نشـــته د اشـــنا په ســـخته زړه کې
پـه کـتـو زمـا پـر حـال ډېـر خـنـدېـدلي
د رقیب سره چې یار په حال مې خاندي
پـه زخـمـونـو مې یـار مـالـګې دوړوي
څوک چې ګل غواړي محنت د اغزی باسي
«مل» د یار ناز او نخرې پـه ځـان منلي

۳۱۰۱۰۲۰۰۷

## مهجور یم

زه د یـار د کرشـــمو پـه دام اســـير یم
د زړه ورړلي ښـــاپيرۍ په عشـــق کې ګير یم
په لمړي کاته یـــار هـــــسې نخـــرې وکړه
چې تـر اوســـه لېـونی د هغـه عبير یم
یوځل ومې‌ليد، له ســـترګو مې بيا ورک شـــو
په ورکه شوې ښـــاپيرۍ پـــسې رنځور یم
خنجري بـانـه يې ښـــخ مې پـه ځيګر کړه
نه روغبـــــــــړم په ځګر خوار او زهېر یم
کلـه بيا بـه مې نصـــيب د یار دیـدن شي
له ډېر وخته «مل» له ښکلې یار مهجور یم

۸-۱۰۲۰۰۷

## تخنولی

د چـا ســـترګې چې پـرتـا وي لګېـدلی
غبـــشی ســـتا د تـــور بانو به وي خوړلی
چې د ستا د مخ شغلې نه څوک وي لېرې
هرقـدم کې وار پـه وار پـه مخ لويـدلی
تـا بې‌ځـايه زړونـه نـه دې ښـــکار کړي
ګل د ســـتا د مخ ســـيالۍ کې شرمېدلی
چا چې ستا وي ښکلې کړې سرې شونډې
د خواږه شـــهـد پـه مزه وي پوهېـدلی
زه ګرم نـه یم چې پر تـا بـانـدې مين یم
د «مـل» زړه دې پـه مســـکا راتخنولی

*دوسلدورف ۱۲۰۱۰۲۰۰۷*

## د مينې جذبه

بېاحســـــاس مې مه ګڼه په خپله مينه
ســـتـا د مينې جـذبـه مې ګـډه پـه وينـه
هغه وخت چې ستا په مينه کې درګير شم
آرامی راځــنې ورکــه شـــــو نــازنــيــنــه
رسوايي مې ستا په مينه کې خوښېـــــــږي
چې ټول پوه شي زما او ستا په ټينګ اړينه
چې منکر نــــــشي له عشـــقه مې جانانه
«مل» شـــاهد لري ټول خلک ماهجبينه

جرمنی۲۰۰۷ ۱۰ ۱۳۹

## تور لېمو

نه د يار د بنګړو شرنګ مې په غوږو شو
نه د هجر پېښې ســپک مې په اوږو شــو
نـه چـا ياد کړم د هغـه پـه خـاطرو کې
نه مې ســـترګې د هغه په تور لېمو شـــو
ما ويل زه بـه د هغـه د بڼ ملیار شــــم
مســـــافر هغـه په ملک د پردو شــــو
زه نو ولې لېونی نشـــم اوس «ملـه»
پـه ځُرتونو مې سر کوز پـه زنګنو شــو

*جرمنی۲۰۰۷-۱-۱۸*

## په حال د خپل

ومی‌نه لید ســتا نظر په حال د خپل
ځکـه ژاړم هره ورځ پـه حـال د خپـل
پخپـل لاس مې پـه مینـه ځـان ککړ کړ
رښا ورځ مې کړه تیاره پـه حـال د خپـل
سـتا له هجره لېونی ځېرې ګرېوان شـم
عام او خاص مې کړ خبر په حال د خپل
اوس نـه ګرځـم «مـل» لـه خپلـه هوډه
خود بـه ژاړم همېش پـه حـال د خپـل

جرمنی ۲۰۰۷-۱ ۲۳۰

## ځنځېري لېونی

خیالونـه مې یاغي شـــو لـه فرمانـه ځخـه لاړ
هوس مې طوفـانی شـــو د جـانـانـه سره لاړ
د ذهن په هنداره کې چې ما ته په مســکا شـــو
قـفـس نـه‌مې زړه ووت پـری‌جـانـه سره لاړ
له عقله پردی کړم ګرېوان ځېرې په صـحرا کړم
ځـواني مې بـهـار ونـه لـیـد خـزا نـه سره لاړ
بېلتون د هغې مـا نـه ځنځیري لېونی جوړ کړ
یـار رانـغی مې خـوا تـه غـلـیـمـانـو سره لاړ
«مل» بس دې نور د خیال په ټالونو مه زنګیږه
ځـواني دې د خـیـالـونـو د کـاروانـه سره لاړ

## ارمان

نه د یار سرې شــونډې مې بوســه کړه
نه په شـــاتو سره خوله مې خوږه کړه
د ګودر پـه لار مې ونـه لیـد لیلي
نـه هغـه مې بیا تر کوره بـدرقـه کړه
چـا تـه وژاړم د یـار لـه ســـنګـدلۍ
په ناســـور زخمونه زړه زما اخته کړه
هیڅ د کوره لیلي نـه وزي د بـانـدې
د «مل» سترګې انتظارو کې خسته کړه

*کریفلد ۲۰۰۷-۲-۱۲*

# شفا شي

چې پـلـو لـه مـخې لـېرې کـړې رڼـا شي
د خوښۍ اوښـــکې مې ســـترګو کې پيـدا شي
بې‌اخـــتـيـاره زړه مې ووزي لـــه واکـــه
چې مې ســـترګې د هغـه پـه تمـاشــــا شي
چې پــه مـيـنـه سره ومې‌پـوښـــتي حــال
ټـول غـمـونـه يـو سره مې پـه صـــحـرا شي
د يــار مــيــنــه او مــحــبــت راتــه دوا ده
د کلـونـو رنځ مې يـودم «مـل» شـــفـا شي

*کريفلد ۲۰۰۷-۳-۳*

# حذر که

چې هنداري ته ګورې يار ســـترګو ته نظر که
په ورين مينه زما يوځل بيا يار ځان خبر که
تورې وروځې له نيامه چې دې بيا را ايســـتلی
تـرحـم وکـړه پـر مـا لـه وژلـو مې حــذر کـه
انګېزه د مينتوب مې ســـتا بربنډې نخرې وه
په کتو چې دې خندلي مينه زما دې زوره ورکه
اوس د مينې په سکروټو کې سوځېـــــږم بې‌تا
رقيبانو ته چې ګورې پر «مل» جوړ محشر که

*کريفلد۲۰۰۷-۳-۱۵*

# زغم غواړي

مینه اســـانه نه ده ډېر زغم غواړي
شـــپه او ورځ ژړا د ســـترګو نم غواړي
د مـیـنـو لاره لـه اغـزو وي ډکـه
هغوی چې کوم مینه د صنم غـــواړي
لاره ډېر کړکیچ او ټیـټ و پـاس لري
تګ په دغه لار ډېر نظم و چم غواړي
ســـترګې د مین وي د ګـدا ســـترګې
ســـترګې د لیلي مجنون هردم غواړي

جرمنی ۲۰۱۳-۳-۱۸

## مرور آشنا

بیا بـه کړم پخلا مې مرور آشـــنـا
هغــــه نازنیــــن مې د ګودر آشـنا
نـــــشــم زغملی جــــدايي د هغې
ډېره پر ما ګرانه د مازديګر آشـــنـا
هغه مې د ژوند د نیکمرغۍ صـــنم
سـترګې ناغدارې د لب شـکر آشـنا
اچوم ســــــــلام نن مخامخ ورته
هغـه ګران تـه د زړه سر آشـــنـا
لاره د ګودر بــــه ورته ونــــیسـم
ونیسم په غیـــر کې عشوه ګر آشنا
هومره «مل» پرځان پورې تړلی یم
واک رانه اخیســتی جادو ګر آشـنا

جرمنی۲۰۱۲-۸-۲۲

## ګذران

تویوه اوښـــکې له ســـترګو په ګرېوان
سوځه سوځه په لمبو اوس د هجران
بیا منګې سره یار نـه وینی ګودر کې
نـه د هـغـه پـه سر وتـومـبې ګلان
پر هغه چې نازیدې پـــه سفـــر لاړه
بې لـه هغـه بیا بـه څـه وکړې ګـذران
لېونی بـه درنه جوړ شي داکتر «مله»
ګرځه ګرځه اوس په دښــت او بیابان

جرمنی ۲۰۱۲-۸-۲۳

## ښکلې دلربا

مـا تـه ښـــکلو کې ښـــکلې دلربـا یې
همداسې نه دي نازنینه چې ته زما یې
چې دې ونـه ګورم زړه مې نـاقرار وي
ولې تــه جـانـانــه دومره بېپروا یې
هر نظر دې مې په زړه مینه را پاري
تـه زمـا د ژونـد او خونـد آب بقـا یې
ګوره مینـه مې هیڅ ونـه ګڼی ټوکـه
زه د تا یم جانـــان هـــسې چې زما یی

جرمنی ۲۰۱۲-۸-۱۱

## بېخود او بېګانه

چې مې باسې له خپلې مینه بېګانه
رانه جوړ به شي بېخود او دیوانه
بیا ارمان به مې وکړې د مینې
زما په شان به څوک ونکړي یارانه
ما کمی خو نه ده کړې ستا په مینه
دا خو ته یې چې کوی تل بانه
زه دې ګورم پخوانۍ مینه دې نشته
چې د لېرې دې کولې «مل» ته اشاره

جرمنی ۲۰۱۲-۸-۱۱

## د مینې دیوان

نـه پوهېـــــــــږي چې پر ما يې څومره ګران
تــه زمــا د ســـــترګــو تــور يې هــم مې ځـان
تـا چې وګـورم خـپـګـان مې د زړه ورک شي
تــه زمــا د ژونـــــــد د هيلـو يې ارمـــــــان
مـا لـه تـا نـه دې خـدای هېڅ نکړي جـدا
تــه زمــا د راز او نــيــاز يې پــټ داســـــتـان
چې هرڅومره دې صـــفت کړم بيا هم کم دی
تــه د «مـل» د ســـوچـه مـيـنـه يې ديـوان

جرمنی ۲۰۱۲-۸-۹

## ننداري ته

واک د زړه راځنې تللی چې درنشـــم دې کوڅې ته
که مې مينه منې که نه منې ګوره خپلې فيصلې ته
پـه کراتو او کراتو کـه مخ واړوې لـه مـا نـه
زړه ښېتا نه صبرېـــــږي نه نيسی غوږ مشورې ته
اوس مې ســـتا سره مينه هغه ځای ته رســـيدلې
چې لـه واکـه مې وتـلې رســـــيـدلې تـرانې تـه
ته ليلې او زه مجنون يم ټول خلک اوس پوهېږي
ګرېوان څېرې لېونی «مـل» راځې مې نـنـدارې تـه

## زما په څه؟

که دې شـــونډې شـــکرين دي زما په څه؟
اننګۍ دي کـه مـالګېن دي زمـا پـه څـه؟
کې دي نښــود شــونډې ګرمې، مې په شــونډو
که دې شـــونډې آتشـــين دي زما په څه؟
را دې نکړ د خپـل شـــونـډو خوږ سرونـه
شـــونډې ســـتا که عنبرين دې زما په څه؟
مـا مزه خو ســـتـا د شـــونـډو هېڅ ونکړ
کـه د شـــهـدو نـه شرين دې زمـا پـه څـه؟

جرمنی ۲۰۱۲-۸-۳

## تخڼوه

يا مې راشــــه تر ښنګ يا مې نور مه تخڼوه
تغافل کې دې بســمل کړم نور مې مه ســوځوه
چې پـه مخـه مې راځې اړوې مخ بـل خواتـه
بس دې نور مې پـه ټپونو مـالګې مـه دوړوه
چې مې مينه په نظر دې هسې بېمالګې ښکاري
نور په ناز او کرشمو دې «مل» زيات مه غلوه

جرمنی ۲۰۱۲-۸-۵

## نشمه منلی

چې را یاد شي اوښــکې نشــم درولی
ځم له ځانه ســترګې نشــم غړولی
ما خو سر او مال وه تا ته ســپارلی
نور بېلتون دې یـاره نشــم زغملی
د رقیب سره ســتا ناســته او ولاړه
په هېڅ بڼې ســـره نشـــمه مـــنلی
په دې ورځو کې دې مینې کمه شــوې
هسې «مل»چې تا دې ورځو کې لیدلی

*جرمنی ۲۰۱۲-۷-۲۸*

## نه یمه

نه یمه بېزار ستا له مینې خیر که خیال مې نه ساتې
اوس هم پر ما ګرانه یې خیر که خیال مې نه ســـاتې
ټول عالم زما او ســتا په مینه شــه پوه شــوی دی
تا ولې کړم هېر جانانه خیر که خیال مې نه ســـاتې
اخلـــم په لېمو ســــتا ناز او کرشـمې مـــــــدام
ته هم کرم وکړه پر ما خیر که خیال مې نه ســـاتې
«مـل»سره دې څو وارې تړون د عشـــق کړی وه
ودریږه پخپل لفظ و قول خیر که خیال مې نه ساتې

*جرمنی ۲۰۱۲-۸-۱*

## یادونه

بیا مې یادونه هغه مستې ښاپېرۍ یادوي
هغه د برکلي تنکۍ او ناوکۍ یادوي
هغه یادونه چې په پټ سره مو مینه کول
غلچکې نیمرخ اشارې د هغه نجلۍ یادوي
لیده کاته مو ګودر غاړه کې یو بله سره
مسکا د شونډو مکیزونه د بدرۍ یادوي
هغه وختونه دیدنونه د چینې په غاړه
ژړا د «مل» خندا د هغه مازدیګرۍ یادوي

جرمنی ۲۰۱۲-۷-۲۳

## په خوب لیدلې

هسې دې خدای نکړي چې مې تا په خوب لیدلې
له ما نه مروره له کوره چیرې وې تللې
په ځُرت کې وم ډوب شوی حال د ستا هم وه خراب
له ځانه بېګانه له سر مې عقل چور وتلی
تا هم نه اورید فریاد مې چې یو څه مرسته وکړې
ناڅاپه شم بېدار «مل» د خولو ډنډکې لویدلی

جرمنی ۲۰۱۲-۲-۲۲

## ګل دی

شـــا او مخ د هر ښــکلې لکـه د ګل وي
چې د ګـل طواف کوي هغـه بلبـل وي
هر عاشــق ته معشــوقه لکه ګل ښــکاري
که غاټول یا که ګلاب یا که ســنبل وي
د معشوق د زلفو مُشک هسې خوشبو وي
چی وږمه یې «مل» معطر لکه سنځل وي

جرمنی۲۰۱۲-۷-۲۴

## ترخې اوبه

د تـرخـو اوبـو مې جـام ځـکـه نـیـولی
چې ببلتون ســتا په اور یم کښــېنولی
چې انځـور دې کلـه اخـلـم پـه لاس
ترمې اوښـــکې مې پر هغـه څځېـدلی
له خپګانه ســاه مې لنډه لنډه شـــوې
بیـا مې ځـان میکـدې تـه رســولی
چې شي هېر ستا د ببلتون میاشتې کلونه
د ســـاقي منـت پرځـان مې دی منلی
په خپګان د «مل» کله باور ســتا شي
ځکه «مل» ســتا له پامه غورځیدلی

۸-۷- ۲۰۱۲

## شرم او حيا

زما او ســـتا تر مينځ واټن شرم و حيا ده
که نه عشـــق زمونږ د دواړو مدعا ده
څوک چې وړی شي په تمه د خواړه شي
زما او ســـتا خواږه عشـــق او رضـــا ده
راځـه دواړه سره مينـه او محبـت کړو
ژوند مو هــسې د څــو ورځو په دنيا ده
شـــيخان پرېږده چې په تمه د جنت وي
زمـا او ســـتـا جنـت مينـه او وفـا ده
د مينو پر لار څوک چې کوښې بـاسي
هـا لـه مور او لـه پلار مـادر خطـا دي

۲۱-۷-۲۰۱۲

## پېرزوينه

پېروزينه چې دې نه کيـــــــــبږی پر ما
څـه ضرور ده چې تـا وګڼم آشـــنـا
چې پـه مينـه کې داسې چـل و ول وي
داسې مينـه او محبـت وي تـل خطـا
مـا پـه اخلاص سره زړه تـا تـه درکړ
بې‌خـبر چې تـه هـېـڅ نـه لـری وفـا
يوه وختـه بـه شي زر پښـــيمـانـه
«مل» په شـــان به بل مين نکړي پيدا

۲۲-۷-۲۰۱۲

## غبرګ غېشي

چې اوربـل اچوې پورتـه د مينې تخم کرې
چې  زلفو ته لاس وړې ويده ماران راويښــوې
په ناز چې اړوې ســـترګې کوې ګذار د مينې
رغبت را زياتوې د زړه کې نه له مينځه وړې
کـتـــــــو سره بـار بـار تـلـوسی را پـاروې
د شـــونډو په مســـکا سره غمونـه ورکوې
نرۍ شونډې چنګ وربېخ بانه غېـشي غېشي
د سترګې په ګذار غبرګ غېشي په زړه ښخوې

۲۱-۷-۲۰۱۲

## پخلاينه

که حجاب له صورت لېرې کړې رڼا شي
د ببلتون د تېــــــــــولو تېپونو مې دوا شي
د انتظـار مياشـــتې کلونـه مې پايان شي
مــرور دلــبر کــه مــا سره پــخــلا شي
نور بـه نـه ژاړمـه ډېر پـه چيغو چيغو
د دلبر مينـه کـه مـا سره ريښـــتيـا شي
نور پر «مل» د ليونی ګمان څوک نکړي
هغه وخت چې يار په مينه مې رضـــا شي

۲۰-۷-۲۰۱۲

## مسکا د شونډې

ښـــکلاېې د ســـترګو نمکي مســـکا د شـــونډې
هـــسې پـــاروی مې رغبت کلـــه پټ کله بربنډې
تمنا د دســـت بوسی مې په زاری له یاره وکړه
په احتیاط راته وویل غمازان ګورې له څنډې
هیلې ټولې مې په اوبو کې له یوسره لاهو شـــوې
د غمازکور د شی وران چې هغه زیږوي ستونزې
نه اخلم لاس د یار له مینې فیصـــله مې همدا ده
که پر ما «مل» ولګېـــږي د غماز کاڼي غونډې

۲۰-۷۰۲۰۱۲

## بې جوړه

پر چـا مین یم چې خوبـانو کې جوړه نـه لري
پروا مې نـه ســـاتی خو زړه کې کینـه نـه لري
مغرور په حسن خپل د کلي پېغلې سیال نه ګڼي
قد او قامت يې له یو سره هېڅ شایست نه لري
کلـه‌نـاکلـه چې لـه ورایـه ورتـه ځیر شـــمـه
لـه ځـانـه ځمـه لکـه هغو چې زړه نـه لري
د هغې خیـالونـه مې د عقـل سره لوبې کوي
ژړا او خنـدا مې سره ګډ چې دیوانـه نـه لري

۱۹-۷-۲۰۱۲

## د ګدر دیدار

کوم  زه هغه مین یم چې دیدار په غلچکۍ کوم
څېرې ګرېوان ګرځم تل یادونه د بدرۍ کوم
نه راځي رغبت مې بې له هغه هر ښــکلې ته
کله چې را یاد شي ژړا پټ پټ هره ګړۍ کوم
نه یم بازاري چې هــسې میــنه د هر چا وکړم
هــسې آدم خــان په څیر عشق د درخانۍ کوم
لمر چې پرېوزي د خوښۍ احسـاس مې ډېر شي
لاره د ګدر کې «مل» دیدار د ښـــاپیرۍ کوم

۱۸-۷-۲۰۱۲

## پټ اسرار

پــه کــوم ژبــه درتــه وکــړم اقــرار
بې لـه تـا مې والله نـه کیـــــــــږي قرار
فیصـــلـه مې وه چې پـټ راز وایم تـا تـه
راسره نــه وه جــرأت د هــغــه اظــهــار
نــور نشـــمــه ســـاتــلی د زړه راز
درتــه وایــمــه اوس هــغــه پــټ اسرار
اسرار دا دی چې مــین یــمــه پــرتــا
پــه دې هیلـه چې قبول مې کړې ګفتـار

۱۷-۷-۲۰۱۲

## ناغه‌داره

د بـاڼو پـه غمزو بـاسي زړه تـه لار
پـه انـداز د ســـترګو زړه وړي پـه قرار
دا پـه پـېغـلـو کې ښـــکلې او امـیره
ثـاني نـه لری هغـه پرې رخســـار
څوک د سترګو په جنګ نــشی ورتللی
ســـترګې تور پـه کـاجـل او نـاغـه‌دار
(مل) ببځای پر هغه نه دی مین شوی
هم دی ښـــکلې هم نازي شرین ګفتار

۱۶-۷-۲۰۱۲

## ښایست

ښـــایســـت نه پیژني ژبه او مذهب
نـه ترې مینـه ځـان پـه کوم نســـب
چـا د چـا زړه پر چـا بـانـدې لاړ شي
هغـه نـه ســـاتي پروا د محتســـب
ښـایســت خپله سرمایه او هسـتی دې
هم طرب دي هم لعب دې هم ذهب
د اشنا مې ښایسته سترګې یادېـــــږي
تل یادېــږي مې آشنا «مل» روزوشب

۱۶-۲۰۱۲

## خیر او شر

یـاغي میني کړم رســوا پـه لر او بر
ســوی رنګ لـه ځـانـه تللی بېخبر
د رغبت جام مې هېڅ نه تشېــــــړي
اوس مې نه کیږی طاقت په سم او غر
لـګـېـدلی مې پـه زړه اور د مـیـنې
نه پوهیـــــږم هېڅ پخپل خیر او شر
که په چیغو وژاړم خلک پر ما خاندي
معلوم نه دی چې مې څه به شي اخر
کـه آشـــنـا پـر مـا ونـکـړي رحـم
غټه تیږه به مې ولګېـــــــړي په سر
فیصــله مې «مل» اوس د لاســه تللې
برخه لیک مې اوس په لاس دی د دلبر

۱۲-۷-۲۰۱۲

## کلیواله مینه

کـلـیـوالـه مـیـنـه تـل وي بېریـا
د مینو راز تـل پـټ وي لـه هـرچـا
دوه مین سره چې کلـه مخـامخ شي
اشـــارې سره خـنـدا وي هـم ژړا
مینه کلی کې ســخت او سر بایلل دي
بـربنـډ مینـه هلتـه تـل وي نـاروا
هلتـه پـټ دزدانـه لیـده کـاتـه وې
سوچه مینه وې «مل» هلته په رېښتیا

۱۶-۷-۲۰۱۲

## شرابې شم

چې پرتا مې مینه راغله سـودایې شـم
ګرېوان خېرې لېونی او صـحرایې شـم
له فراقه دې اور مې په زړه بل شـو
سـتا د مینې سـمندر کې طوفانی شـم
ستا دیدن پـسې مې سترګې دي په لار
کور په کور لکه ملنګ په ګدایي شـم
خـودکـشی خو روانه ده عاشقي کې
وایه سـتا د لاسـه چا ته فریادي شـم
«مل» دې پرېښوده یوازې په انګار کې
له ډېر غمه میکدې کې شرابې شـم

۸-۷-۲۰۱۲

## ناز او نزاکت

بـیـا د نـاز کـرې لـمـبې پـه درمـن مې د رغـبـت
بیا د مینې په سـکروټو کې مې سـوځي ټول صـورت
بـیـا اشــارې د ښــکلولو راکـوي د سرو لبـانـو
بیا مې غواړي خپل حضـور ته په ډېر ناز او نزاکت
داسې ښـکلې دلربـا پـه نصـیـب شـوې زمـا
چې هـم نـاز راکـوي هـم مې غـواړي پـه خـلـوت
هست او بود می ورنه جارشی تل فارغ اوسی له غمه
څو ژوندې یم ناز یې اخلم «مل» په مینه اوالفت

۱-۳-۲۰۱۲

## له کابل

لــه زلــفــانــو یې راتــلــه وږمې د ګــل
د وربــل پــر سر ټـومـبـلی وه ســـنـځـل
د ګــودر پــه لاره مــخې تــه مې راغـلــه
چې ســــلام مې ورتــه وکــړ یــار خــنـدل
دواړه ســـــترګې رمــنــده لــکــه هــوسۍ
ډېــره نــرۍ وه تــورې کــړې پــه کــاجــل
هـــــــسې ښــــکلې ښــکارېده مې په نظر
چې یې ســــیالی په بڼ نه وه هېڅ ســـنبل
مــا چې وکتــل ګـوتې مې پــه غــاښ شـــو
«مـل» هغـه ښــکلې بـدرۍ وه لـه کابـل

۲-۳-۲۰۱۲

## خوب کې لیدل

فــکــر یې نــه وه ورتــه غــلي مې کــتــل
هــسې ښــکلې وه چې ګل تـــرې شرمېدل
نــاغــهدارې ســــترګې تورې پــه کــاجــل
پــه ډېــر نــاز سره وربــل خــپــل اړول
چې نــظــر یې پــر مــا کــلــه لــګــېـدل
په سرو شــونډو کې مســـکا راټوکېدل
محفـل ګرم وه د واده هغـه شـــپــه کې
چې یــو بــل مــو مــخــامــخ سره لــیــدل
یـو د بـل لـه لـیـدو هـېـڅ نـه مړېـدو
«مل» ریښتیا وه یا په خوب کې دې لیدل

۲۹-۲۰۲۰۱۲

## وابه‌نوړم

وابـه‌نوړمـه لـه تـا نـه، تـه مې شـــمع زه پـروانـه
کـه د مخ رڼـا دې نـه وای لاره ورکـه وه لـه مـا نـه
په هاله کې چې دې ګرځم ټول له مینې او محبت دې
څوک چې زما په شان مین وي هغه خود به وي دیوانه
چې د ســتا د تورو ســترګو ګـذارونـه پر ما شـــوی
لـه هغـه وختـه لا تراوســـه تشـــوم خم او پیمـانـه
په طواف د سـتا شـغله کې خوب مې نشـته په سـترګو
ســتـا د مخ بلـه ډیوه مې دی د هیلو ســتره خزانـه

۶-۳-۲۰۱۲

## ژاړا او خندا

چې هر وخت یوازې کیـــــږم ژړوي مې ستا یادونه
په خیالاتو کې ډوبیــــــږم، ریږدي ټول مې اندامونه
ځـان سره کلـه نـاکلـه بې‌اختیـار پـه چیغو ژاړم
لیونی ځیږې ګرځوان لـه خولې بـاســم فریـادونـه
که مې فکر شي بل خوا ته هغه دم ته مې یادیـــږي
ســترګې ډک مې شي له اوښــکو یادوم ســتا نازونه
لاس مې نه رسیـــږي تا ته چې ګل کیـــږدم وربل دی
مل ټول کړي ستا وربل ته د خپل خوښې سره ګلونه

۲۲-۲-۲۰۱۲

## کله بیا راځې

هومره مې خوشبېري چې يې نوم واخلم ژړا راځي
ځم په تصـــور کې چې آشـــنا زما په خوا راځي
بې له هغه ژوند راته هــــسې بېمعنی ښــکاري
ځان را ځنې هېر شي تل په ياد کې مې ليلي راځي
اوس مې ګرېوان څېرې بېګانه له خپله ځانه يم
هــسې لېــونی يم چې مې ژړا هم مې خندا راځي
مينه آســان نه دې بېلتانه کې د زړه سر ســوځي
زه «مـل» لارې څـارم چې دلبر مې کلـه بيـا
ږ

۲۲-۲-۲۰۱۲

## د زړه آزار

بـيـا زمـا د زړه آزار تـه رغـبـت کـړي
لـه دې ښـــاره اوړد ســـفر تـه نيت کړي
زه به څنګه بې له هغه ځان ســـمبال کړم
بېلـه مـا نـه فـيصـــلـه د فـرقـت کـړي
مـينـه خـپلـه اعـتـماد دې يـو تـر بلـه
پـه اعـتـمـا د کې دوه مـيـنـو الـفـت کـړي
چې د هـجـر پـه لـمـبـو کې مې پـرېـږدې
هـا زمـا پـه پـا کـه مـيـنـه تـهـمـت کـړي
چې پـه ســـپک نظر مې مينې تـه يار ګورې
ها د خپل جفا «مل» خپله صـــفت کړي

۱۸-۱-۲۰۱۲

## شونډې

نور مې نشته حوصله شونډې کیـــږده مې په شونډو
زه بـه هم ښــکلومـه هم لـه پورې هم لـه څنـډو
لا په للمو شونډو زما شونډې چـا ایـښې نـــه دي
سرې شونډې مې که ګرم په ګرم شونډې دې په منډو
ما د ستا په شان سرې شونډې د هېچا لیدلې نه دي
لـکـه پـاڼې د ګلاب ډېـر نـازک خـوا‌ږه لـه قـنـدو
پرزوینـه پر مـا وکـه چې ارمـان مې یـار پوره شي
چې «مل» پوه شي ستا د شونډو په مزه او په خوندو

جرمنی ۲۰۱۲-۲-۲۰

## د یار یاد

چې ترمې اوښکې مې ګرېوان ته رائي
د یـار یـادونـه مې هجران تـه رائي
هغه یادونه هغه ښــکلې شـــېبې
هوس مې اوس هغه زمان ته رائي
څه وخت به بیا سره جوړه کښېنو
د یار تصــویر مې چشــمان ته رائي
نور د اشـــنا بېلتون زغملی نشـــم
هیله د وصـــل مې جانان ته رائي

جرمنی ۲۰۱۲-۲-۱۳

## بې‌ننګ

په هغو کې چې د مينې نه وې رنګ
له هغو تښته په واټن او په فرسنګ
محبت او مينه ژوند ته لذت بخښي
ژوند بې‌خوند وي چې د عشق نه وې فرهنګ
مينه ژوند، مينه خوند، مينه صفا ده
مينه ورې د زړه هنداريې ځنې زنګ
چې د هر هوډ او هدف سره عشق مل وي
له هغو نه څوک ګټلی نشي جنګ
چې د آشنا سره مينه مې پيدا شو
له هغه وخته (مل) نېشه ګرځم بې‌ننګ

جرمنی ۲۰۱۲-۱-۱۱

## نه هېرېږي

چې هر څومره هېروم دې نه هېرېږي
چې مې څومره ځوروې نه مې بدېږي
نه پوهيږم تا سره څه مهرموره ده
چې تا وينم اندامونه مې لړزېږي
ځان سره مې فيصله له وخته کړې
چې بې‌تا مې نور ښکلې نه خوښېږي
ځان دې پوه که چې پرتا مې زړه بايللی
که زړه ستا پر«مل» ورحمېږي

جرمنی ۲۰۱۲-۱-۱۰

# یمه که نه یم

له ســترګو نه مې پوه شــه چې مین یمه که نه یم
بیا زړه کې مې لاس کیــږده چې مین یمه که نه یم
ریبار به درته ویلي وي زما له بېصــبرۍ نه
له سترګو مې خوب ورک دی د ستا له جدایۍ نه
باور دې ولې نشـــته؟ چې مین یمه که نه یم
له ســترګو نه مې پوه شــه چې مین یمه که نه یم
فرهنګ د عاشـــقۍ کې دروغ ویل تل خطا دي
هرڅوک چې دروغ وایې هغه خپله ناروا دي
له رنګ نه مې یار پوه شــه چې مین یمه که نه یم
له ســترګو نه مې پوه شــه چې مین یمه که نه یم
له ما نه چې مخ اړوې زه ډېر ناقرارېــــــــږم
لـه ځـانـه مرور پـه ځُرتونو کې ډوبېــــــــږم
چې خبرې ګرېوان ګرځم نو مین یمه که نه یم
له ســترګو نه مې پوه شــه چې مین یمه که نه یم
طاقت د «مل» نه کیږی تا ته وایم چې مین یم
پرتـا مې زړه بـایللی بې لـه تـا ډېر غمګین یم
له زړه دې شــک که لېرې چې مین یمه که نه یم
له ســترګو نه مې پوه شــه چې مین یمه که نه یم

جرمنی ۲۰۱۲-۱-۱۴

## پس پسی

پیدا به مې نور نه کړې چې دې بیا ښکل کړم
یا ښـکل خاورې سـتا په کوڅه کې د پل کړم
بســـتر کې بیــا مې وا نه وری پس پـــــسی
که د ســـتا له څنګه تېښـــته تر کابل کړم
ژونـد مې مـه ترخوه ژونـد پـه تېرېـدو دی
کـه نـه ځـان د بـل دلبر ګل پـه وربـل کړم
بېبـاوره پر مـا مـه کیـــــــــږه جـانـانـه
زه هم نه غواړم چې پردۍ مینه د خپل کړم

*جرمنی ۲۰۱۲-۱-۷*

## په چیغو

ســـتـا د لاســـه غـواړم وژاړم پـه چـیـغـو
لـه بېلتون نـه دې خپـل سرمـات کړم پـه تیږو
دا تــه نــه وې چې دې زړه را ځــنې یــووړ
هــر نـظـر دې زمـا خـوا تـه وه پـه مـیـنـو
کــلــه کــلــه چې پــه مــخــه مې راتــلــلې
تــور زلــفــان دې اړول لــه مـخ پـه کـېـڼـو
اوس لــه یــاده دې وتــلې زمــا مــیــنــه
مګر ستا د مینې اور لا تود دی د «مل» په وینو

*جرمنی ۲۰۱۲-۱-۱۱*

# ستا مسکا

انګیزه زما د مینې ســـتا د سرو شـــونډو مســـکا وه
هسې تللی وم له ځانه چې وه خیال یا که ریښتیا وه
چې مې عقـل سر تـه راغی زړه مې تللی وه دوا کـه
ما چې وکتل هر خوا ته ســـتا د حســـن تجلا وه
کله ویښ کله په خوب ستا د حسن له نیـــشی نه
هم په خوله کې مې خندا هم په ســـترګو مې ژړاوه
دا جذبه د محبت ده چې لـــذت بخـــښي روح ته
څه چې پېښـــه شـــو پر ما هغه مینه زما او ســـتا وه
اوس مې ځان سـپارلی تا ته واک د زړه راسره نشـته
که «مل» زړه پرتا بایللی ســـتا کاته زما په خوا وه

جرمنی ۲۰۱۲-۱-۷

# جامونه

نه ماتېـــــــږي تنده مې ســاقي په دې جامونه
هــسې بېلتانه مې پـــه زړه ایــښی دي داغونه
شـــیخ مې د الحـاد پـه مزي تړي چې مین یم
هلته مې آشـــنا ته ورکوی ســـخت پېغورونه
شـــیخ او ملا دواړه زما پرضـــد سره یو شـــوي
هغو مې د یـار کوځـه کې ایږدي راتـه دامونـه
دلتـه میکـدې تـه ســـاقي تـا تـه یم راغلی
عقـل رانـه واخلـه را نژدې کـه غـټ خُمُونـه
زر مې لېـونی کـه چې غـمونـه رانـه هېر شي
څو چې پـه نېشـــه کې د یـار وکړم دیـدنونـه
تا ته به ثواب شي چې خلاص مې له عذاب کړې
پورتـه کـه ســـاقي ســـاغر را کوه زاړه شرابونـه

جرمنی ۲۰۱۲-۱-۶

## لېونۍ ده

زه کـه لېونی یم آشـــنـا مې هم لېونۍ ده
څنګه غلی پاتې شم چې شونډو کې مسکۍ ده
لانـدې لـه بـاڼو نـه ورتـه غلی غلی ګورم
ښـــکلې اننګونه تورې ســـترګې د هوسۍ ده
زه چې په لیدو یې پردې له عقله کېـــــــږمه
زغم راځنې تللی هر کـاتـه یې د بـدرۍ ده
هېڅوک بې‌سببه خوشې نه لېونی کېــــږي
زه چې لېونی یم د یـار ښـــه مې ځواني ده
نشـــم زغملی د فراق او د بېلتون حـالـت
یار چې نه وي «مل» رڼا ورځ مې تروږمۍ ده

جرمنی ۱۱-۷ ۱۱ ۲۰

## نه دې هېروم

نه هېرېــــــــږي تل دې ســـاتمه یادونه
مـا ســــاتلي ســـتـا د مینې پټ رازرونـه
چې یوازې شـــم د ځانه سره ژړېــــــــږم
لاهو کېــــــــږم ســـتا د ناز په دریابونه
دروغ نــه وایم راځـه حـال مې یـاره ګوره
چې مې ریـږدې لـه بـېلـتـونـه انـدامـونـه
دواړه ســـترګې مې یـار ســـتـا لارې څـاري
پـه انتظـار (مـل) تیروي میـاشـــتې کلونـه

جرمنی ۱۱ ۲۰-۱۱-۳

## تللې دی

نور مې دیدن نه کیــــږی جانان په سفر تللی دی
ســـترګې چې مې سرې دې پرون ډېر مې ژړلي دی
**
نـوې مې د هـغې سره د مـیـنې لار نـیـولې وه
پـه زړه کې مې د هغې د مینې تخم کرلی وه
نه وینمه یې اوس ټول صـورت مې ســوځېدلی دی
نور مې دیدن نه کیــــږی جانان په سفر تللی دی
**
زړه دې چې یارۍ ته نه وه ولې خندېدلۍ ما ته
هـوډ یې چې ســـفـر تـه وه ولې نـه ویـل راتـه
څـه وکړمـه خلکو زړه مې چور لـه واک وتلی دی
نور مې دیدن نه کیــــږی جانان په سفر تللی دی
**
څـه چې آشـــنـا وکړ پـه غمونو یې اختـه کړمـه
ژوند د «مل» برباد شود وسواس سره مبلمه کړمه
پـروت پـه انـتـظـار ســـترګې بېـواکـه ژړلي دی
نور مې دیدن نه کیــــږی جانان په سفر تللی دی

جرمنی ۲۰۱۱-۱۱-۲

# مینه ستا

د بېلتون شپې دې کال پر ما تېرېــــــږي
چې بېتا شم ترمې اوښکې مې تویېــــــږي
مینه ستا مې په زړه هــسې ځــای نیولې
چې ته نه اوسیــږې تپ مې زړه درېــږي
دا چې هومره زه مـایـل یمـه یـار تـا تـه
دا مې زړه دی چې بېتا هېڅ نه صبرېــږي
چې را اوزی پر«مل» هغه ورځ اختر وي
له خوښۍ نه ټول صورت مې لړزېـــږي

جرمنی ۱۱ ۲۰-۱۱-۱۳

## د ناز په تغافل

هغه ورځ دې را یادېـــــږي چې یوبل سره آشنا شـو
ما چې تا ته کتله ســتا په شــونډو کې مســکا شـــو
تـه د نـاز پـه تغـافـل کې زه د پریکړې تقـابـل کې
چې زړه ورکړم که ورنکړم سـتا په مینه زړه رضـا شـو
مـا پلمـه در لټولـه چې پـه څـه ځـان در نژدې کړم
تا هېڅ ونه کتل ما ته ســتا نظر په بله خوا شـــو
په وسواس کې دې لاهو کړم تا چې مخ که بل خوا کړ
چې دې مخ واوړول مـا تـه تروږمی پر مـا رڼا شـــو
د واده محفل شـــو ختم هر څوک لاړ پخپله مخه
هیلې زما هم تر سر نشـــو هغه شـــپه سره جدا شـو
له هغه وخته لاتر اوســـه لارې څارې مې ســـترګې
له بېلتونه دې جانانه غبرګ مې پورته په هر خوا شـــو
هره ګړۍ چې مې یاد شي ځان سره داسې ګړېـــــــږم
هغه ورځ دې رایادېـــــــږي چې یوبل سره آشنا شـو

*جرمنی ۲۰۱۱-۸-۷*

## یادونه

یـادونـه مې فریـاد کړي ښـــار او کلی خبروي
سـکروټې د بېلتون سـتا هر اندام مې سـوځوي
لـه ځـانـه ځنې ځم تصـــور کې چې را یـاد شي
هـوس مې لالـهـانـده جـانـان تـا زړه لټـوي
چې مخې ته مې راشي ژبه ګونګه مې په خوله شي
جـذبـه د محبـت دې زړه مې غلی غلی وړي
پـه ښـــکلـو کې ثـاني نـه لـري هغـه دلـربـا
پلو چې لـه مخ لېرې کړې هر ښـــکلې شرموي

جرمنی ۲۰۱۱-۸-۸

## تر انجام

زړه نشـــم ایښـــودلی د بل چا د عشـــق په دام
نـه لري بلـه ښـــاپیرۍ زمـا پـه زړه ســـتـا مقـام
د باڼو غبـــشی د ســـتا چې مې ســـینه کې لګـــېدلی
د جبین شـــینکۍ خـال دې زمـا محراب زمـا امـام
چې پـه شـــونډو دې مســـکا پـه مکیزو ټوکېدلې
هر ځلې دې تخنولې زما رغبت هر صـــبح و شـــام
چې هر ځلې دې پـه زلفو لاس وړلې پـه مکیزو
ســـتـا د میني کوربـه شـــوی زړه زما ګام په ګام
وایه «مل» به څنګه کیږدي زړه خپل د بل په لومه
لـه تـا نـه اوړم جـانـانـه تـا سره یم تـر انجـام

جرمنی ۲۰۱۱-۸-۴

## لکه ګل پاڼې

لـه برخو نـه دې مېنې رنـګ اخیســـتی
ســـپوږمۍ تـه ځلا ســـتـا مخ ورکړی
دواړه شـــونډې دې نازک لکه ګل پاڼې
له ښــایســت نه دې ګل بڼ کې شرمېدلی
دواړه وروځې دې کمان بانـړه دې غـښې
وار په وار غبـشي دې زما په زړه ویشتلی
هر نظر کې چې دې شونډې مسکې شوی
عقـل او فکر رانـه ســـتـا بیـا ادا وړی
وایـه کلـه راکوي زکـات د شـــونـډو
لېونی زړه «مل» نـــور نـــشی صـــبرولی

جرمنی ۲۰۱۱-۸-۳۰

# رواني اوښکې

چې را یاد شي هېڅ مې اوښـکې نه درېــــــــږي
ســـتا د مینې لمبې زړه کې مې تاوېــــــــږي
لـه بېلتونـه دې یـار وچ لکـه لرګی شـــم
بېتـا هـېڅ مې زړه نـه قـرارېـــــــــږي
ګــرم نــه یــم زړه لــه واکــه مې وتــلی
ســتا نخرې مې جانان هېڅ نه هېرېـــــــږي
نــورو، نــورو خــپــل مــین نــه ځــوروي
مګر ســتا بېرحمه زړه هېڅ نه رحمېـــــــږي
ســـتــا پــه مینــه کې یــار کلـک وفـادار یم
ځکه ســـترګې مې په هیچانه غړېـــــــږي
کــه پــه مــینــه سره زړه تــه مې نـژدې شي
د «مل» زړه به هغه وخت ډېر خوشحالېږي

جرمنی۲/۱۱/۲۰۱۱-۳۰۸

## وچې شونډې

که زما په وچو شـــونډو يې نظر شي
ګوندې زړه به يې پر ما يو څه بهتر شي
د چا رنګ چې د بېلتون په اور وي سوی
په ليدو د خپل دلبر خوله يې شـــکر شي
څوک دې نه ازمايې ځان د يار بېلتون کې
که نه زړه به يې د اور په غټ مجمر شي
چې د يار چا ته ديـــدن ميــسر نـــه وي
لېونی څېرې ګرېوان په ســـم اوغر شي
د مين هيله هغه وخت تر سرکيـــــــږی
چې د يار ديدن «مل» ته ميـــــسر شـــي

جرمنی ۲۰۱۱-۵-۲۴

## د ګودر خوا

يـار چې مې را يـاد شي مـازديګر خواتـه
تـيرو خـاطـرو مې وړي ګـودر خــواتــه
هــغــه د ځــوانۍ او د مســـــتۍ دورې
لاس په لاس چې تلو مونږ د چکر خواته
اوس ورپـــــسې ژاړم چې را يـــاد کـــړم
هــر ګـړۍ مې فـکـر ځي دلـبر خــواتــه
ژوند هسې تېرېـږي په غربت کې «مل»
نــه وينم دلبر خپـل لر او بر خواتــه

## په سلګو

د ښېلتون پېتي مې دروند شي په اوږو
څاڅي اوښکې مې له سترګو په سلګو
چې د يار د کرشمې لمحې شي ياد
ژوند مې تېر شي هغه ورځ په ډېر ترخو
عاشقي کې د زړه وينه وچيږي
څوک چې شوی وي ښکار د تور لېمو
د وصال ريبار يې نه ښکاري «مله»
بېوفا ښو دلبر په ټول وعدو

جرمنی ۲۰۱۱-۵-۱۵

## څه مستي وه؟

ځواني او څه مستي وه، مينه پټه غلچکي وه
د دلبر سره ليدنه هره ورځ مازديګري وه
په کتو سره يوبل ته ټول د سترګې اشارې وه
يو تر بله جاريدل وه ښه نسيم د پسرلي وه
په نکريزو سره لاسونه، وربل لنډ شنه خالونه
تورې سترګې په کجلو رمنده لکه هوسۍ وه
په رګونو کې لمبه وه «مل» د مينې تلوسه وه
مينه ټوله حقيقي وه هسېنه چې بازارې وه

جرمنی ۲۰۱۱-۳-۲۱

## بېوطنی ...

نه ســاقی، نه مطرب نه مینا، نه می جام
نه په ناز مې جانان اشــارې کړي له بام
مســافر غلی پروت، نه مې یار، نه یاور
ډکې سترګې له او ښکو له سهار تر ماښام
ځپه خوله، نابلد، پریشــان ســودایې
نه لغمان، نه کټل، نه چهاردهی، نه نولام
بې کسي، مفلسي، عاجـزي، تنګدستي
لـه وطن فراری نـاخرګنـد مې انجـام
هم ساقي هم مطرب دلته ټول بېګانه دي
بېخوند ژوند تیروم درسته شپه ټول ایام

جرمنی ۲۰۱۱-۳-۱۷

## هغسې وشوه

له هــغه ځــه چې ډارېدم هــغسې وشو
په ځرتونــو کې چې تلم هغــسې وشــو
د آشــــنا مې د راتـګ لارې څـارلـه
چې له هجر يې سوځېدم هغــسې وشــو
ما ویل زه به د هغه په دور طواف کړم
مخ يې واړه وو بــل خوا هغــسې وشــو
د دلبر لیـده کـاتـه مې لوی آرمـان وه
چې بېهغه اوســېدم هغـــــسې وشــو

جرمنی ۲۰۰۱-۴-۳

# بې‌پروا تېرېده

لـه دغـه لارې د ګودر پـه لور لیلي تېرېـده
چې یوناڅاپه مې نظر شـــو په مســـکا تېرېده
هغـه لیلي چې رانـه زړه پـه نخرو وړی وه
منګی پر سر، ګل په وربل، په ډېر ادا تېرېده
چې خندېده ســـپین غاښـــونه یې ځلا کوله
د بانـــو غبـــشی یې جـــوړه زما په خوا تېرېده
ما چې د مینې خپل درخواست اشارې کړ ورته
ها نخرهګره چُپه خوله «مل» بېپروا تېرېده

۳۱-۱-۲۰۱۱

## رسوا صنمه

څه وخت به نرم شي ستا د کاڼي زړه پر ما صنمه
رنګ ته مې ګوره سترګې سرې شوې په ژړا صنمه
ســـتا د خندا په بدله تا ته مې زړه ورکړ يار
حرام پر ما د نورو مينه وې ريښـــتيا صـــنمه
ياری به خود، خو را سره کړې له تا نه ګرځمه
مـه ځوروه مې را سره شـــه زر پخلا صـــنمه
چې زړه دې نه سوځي پر ما د رقيب لمسون دی
له رقيب مه اوره چې رقيب لری مدعا صـــنمه
ځان په دې پوه که چې ستا مينه پرېښودی نشم
مينه د تا سره د «مل» شـــوې رســـوا صـــنمه

جرمنی۲۰۱۱-۲-۱

## جام اخلم

کـه د ســـاقي د لاســـه جـام اخـلـم
ســـتـا د ســـفـر د تـلـو پـيـغـام اخـلـم
ژاړم پــه دې چې دې يــوازې کــړمــه
اوس لـه قســـمتـه خـپـل انتقـام اخلم
چې مې پـر تـا بـانـدې زړه بـايـلـی وه
د خـپـل اعـمـالـو اوس انـجـام اخـلـم
چې دې پـه مـيـنـه کې رســـوا شـــمـه
درګـرد د خـلـکـو اوس بـدنـام اخـلـم

جرمنی ۲۰۱۱-۱-۲۸

## په سلګو سره ځي

د ژوند شــپې مې په ســلګو سره ځي
دا چې دې نــه وينم څُرتو سره ځي
ستا ټول وعدې له سره دروغ وختل
خوښي له ما نه اوس په تلو سره ځي
ســـتا د وصـــال ډېرى پيچلې لارې
ډک لــه اغـزو اوږد مـزلـو سره ځي
زه نه وم پوه چې بېوفا خبــــــرې
ســـتــا د جفــا د خــاطرو سره ځي

جرمني ۲۰۱۱-۱-۲۹

## ګدا سترګې

له ديدن دې نه مړېــــــږي دا ګدا سترګې زما
په بېلتون کې دې سرې اوړولې له ژړا سترګې زما
څه جادو دې ســتا په ســترګو چې وړی پام زما
چې تل باسی انتظار ســـتا د ادا ســـترګې زما
په محفـل د راز و نياز کې پلو لېرې کـه د مخ
له نژدې نه چې دې وګوری وړيا ســـترګې زما
هر کاته دې ســـپړوي بې‌اختيار غوټۍ د ميني
له ديدن دې نه لري هيڅ اقناع ســـترګې زما

جرمني۲۰۱۰-۱۱-۲۲

# سرکرده يې

ښـــکلا او پېغلتوب دې پــه زړه اور پورې کوي
له نظر دې خدای وساتي ګوتې غاښ پورې مې وړي
ته له ځانه خبره نه يې چې د ښـــکلو لويه اميره يې
چې په شـونډو دې مسکا شي حورې اوښکې تويوي
ته د درســـت جهان د پېغلو د حســـينو سرکرده يې
ځکه «مل» ســتا په ببلتون کې ناقرار وخت تيروي

جرمنی۲۰۱۰-۱۱-۲۲

# لېونی شم

نه له یاده دې ایستی شم
نه بېتا یاره اوسیدی شم
پر ما څه دې سحر کړی
چې نه اوسې، لېونی شم
**
تورې سترګې ناغدارې
په انداز مې زړه را پارې
مه ځه لېرې یار له ما نه
کله بیا دررسیدای شم
**
زړه مې تا پورې تړلی
اوس له واکه مې وتلی
هر خبره ستا منلی
له تا هیڅ نه بېلېدای شم
**
د چا مه منه خبرې
له غمازه ګرځه لېرې
ته د «مل» د زړه سر یې
تل دې ناز اخیستی شم

جرمنی۲۰۱۰-۱۱-۶

## لوبه

منګی دې ورو ورو ډکوه د ســـترګو توره
پـه انتظـار دې یم ولاړ مـا تـه راګوره
لــه مــالــګـېن مـخ پـلـو کــه لـېرې
نــظــر پــر مــا واچــوه غــلې
لــه انــتــظــار مـی ســـترګې ســـترې
ژاړم په دې چې تل ناوخت وځې له کوره
منګی دې ورو ورو ډکوه د ســـترګو توره
**
زړه مې کــوربــه ســـتــا د مــیــنې
یـــوازې تـــه مې نـــازنـــیـــنې
پـر مـا ډېـره ګـرانـه یې شـــیریـنې
لـه جـدایې دې جـانـان ډېره لرمـه ویره
منګی دې ورو ورو ډکوه د ســـترګو توره
**
مــیــنې دې زمــا سر تــه خــتــلې
خــلــکــو پــر مــا پــوهــېــدلې
پـټ پـټ کتـل مـو رســـوا شـــوي
څوک بیلولی نـشي له «مل» تا په زوره
منګی دې ورو ورو ډکوه د ســـترګو توره

جرمنی ۱۰ ۲۰-۱۱-۷

## د مینې غوټۍ

د مینې غوټۍ دلته په کټو سره سپړېـــــري
هلته د مینو په کټو ســترګې ړندېــــــري
دلته مذمت د مینې څـــوک نـــشي کـــولی
هلته چې څوک مینه وکړې پزه یې پرېکیـري
دلته د مینو کټل ســـتر ښــکلی فرهنګ دی
هلته د ملا په فتوا ښځه سنګسارېـــــري
څو چې د ملا د واکدارۍ کمپله ټــوله نــشي
هغه بورې پېغلې د خپل پلار په کور زړېږي
«ملـه» د ملا پـه فرهنـګ مینـه نـاروا ده
څو چې وي ملا په قدرتُ پېغلې به څورېږي

جرمنی۲۰۱۰-۱۱-۶

## نه ماتېږي

نورو نورو په زیور کړی ځان سینګار
بېزیوره ښــایســته ښــکاري مې نګار
پستې شونډې، نرۍ وروځې د جانان
ســـاری نـه لری زمـا د مینې یـار
چې په ناز وکړې نظر صـــنم پر ما
لاهو کېـــــږم د سکروټو په انګار
په دیدن یې مې هیڅ تنده نه ماتېږي
له ما (مل) وړی د زړه صـــبر و قرار

جرمنی ۲۰۱۰-۱۱-۴

## نامراد

هـــسيـ هېڅ شـېبې به نه وې چې مې را نشيـ په ياد
ځوروي مې ســـتا ښېلتون ژوند بېرنګ زړه مې ناښـــاد
زړه دې واخيســـته له ما نه د ځواني په درشـــل کې
وســـوســـو کې ولويـدم فرقـت ســـتـا کړم برباد
چې دې مينې زړه کې نـه وه، ولې دې خنـدل ما تـه
چې مې نـه ســـاتې پـروا اوس نـو واوره مې فـريـاد
د ښېلتون په مجمر کې اندامونه مې ســوځېــــــــږي
ژاړه ژاړه (مـل) پـه چيغو چې ځواني شـــو نـامراد

جرمنی ۲۰۱۰-۱۱-۴

## د محبت تمنا

زه چې غواړم يار لـه تـا نـه، هغـه مينـه او محبت دی
هغه ژوند دی، هغه خوند دی هغه ټول صميميت دی
چې پـه ځير ځير درتـه ګورم، مـه ګڼـه مې يـاره ګرم
زړه لـه واکـه مې وتلی، ســـتـا پـه مينـه کې لـذت دی
بې لـه مينې ژونـد تريخ وي، ژونـد د تـا سره خوږ وي
دا ستا مينه را ښـــودلې، چې په مينـــه کې عـــشرت دی
پـه رغبـت سره چې دواړه ځيرځير يو او بـل تـه ګورو
ســتا او زما په واک کې نه نه ده دا د مينې خصـلت دی

جرمنی۲۰۱۰-۱۰-۲۱

## ریاېي مینه

کـه لـه مـا نـه مینـه غواړي، مینـه راکـه پـه ادا
مـا پـرتـا زړه بـایـللی خـبروم دې پـه ریښـــتیـا
یو نـاڅـاپـه چې نظر مې ســتـا پـه مخ ولګېـدل
مخـامخ دې یار کتله خوله دې ډک وه لـه خنـدا
چې د مینې رغبت مې یار د ســتا په ســترګو ولید
زړه کوره شـــو ســتـا د مینې راغلـه مینـه مې پرتـا
مینه ژوند مینه خوند مینه عشق مینه احساس دې
مـیـنـه تـه راکـوه یـاره مـا بـایـلـلی زړه پـرتـا
د مینو په مینځ کې (مل) چې مینه ریښـــتیا نه وې
هغـه مینـه، مینـه نـه دې هغـه مینـه وې ریـا

جرمنی ۲۰۱۰-۱۰-۲۰

## ګیله

ولې زړه دې رانه یووړ چې اوس نه ګورې یار مـا تـه
یـارانـه کې داسې نـه وې چې یـار مخ واړوی شـــا تـه
کـه دې زمـا پـه اورین مینـه ســـتا بـاور نـه راځي یاره
راځه لاس مې په زړه کیـــږده چې ټکي شي ښکاره تا ته
زمـا نظر چې ســـتـا پر ســـترګو یـار لـه لېرې ولویدل
عقل لاړ رانه پردی شــو پام مې واوړیدل ســتا خوا ته
ستا په حسن مې قسم دی چې بیتاب له هغې ورځ یم
چې پرتـا (مـل) زړه بـایللی بیـا کتلېنـه دې چـا تـه

جرمنی ۲۰۱۰-۱۰-۱۹

## غنم رنګ

پسـتې شـونډې، مړاوې سـترګې غنم رنګ
مالګین مخ یې کړمه مست هـسې بېبنګ
هـــسې بښــکلې یـــار ما هېڅ نه وه لیدلی
چې له لېرې شي د تورو ســترګو په جنګ
پـه هـالـه د خپـل جمـال یې لاهو کړم
اوس راڅـرخـم سرګـردان لـکـه پـتـنـګ
پـه نصـــیـب مې دا زړه وړی ګلـه وشي
د انتظار په سترګو ناست (مل) په پالنګ

جرمنی ۲۰۱۰-۱۰-۱۹

## ومې ژړل

چې زما له څنګه لاړی هـــسې ډېـــر مې وژړل
لېونی څېرې ګرېوان خلک پر ما هسې وخندل
ژوند مې هــسې وه بېرنګه چې جــدا ومه له تا
ســتا د ناز پســتې خبرې تل په یاد مې ګرځول
هر کاته دې تخېوله زما رغبت ستا محبت ته
تصور کې د(مل) سترګې آشنا ستا لارې څارل

جرمنی۲۰۱۰-۱۰-۲٤

راه‌پرچم ناشر اندیشه‌های دموکراتیک

www.rahparcham1.org